http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

مصري خان خاطر اپریدے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# تړون



د خیبر درې
د شاعرانه غېږې
په
نوم

د خاطر رنګین غزل ته حېرانېږم
په دې څه خیبر کښې څه دې پې لهٔ خاورو



# فهرست


شمېر — مخ

( ا )

۱ : چې عاشق د معشوقې په لور کاته کا ———— ۱۴

۲ : چې اشنا ئې ستمګر شي نو بد څه کا ———— ۱۵

۳ : زړه چې کړي هر وخت د دردونه اشنا ———— ۱٦

( د )

۴ : کافي برقې دې دیدار د محمدٌ ———— ۱۷

( ل )

۵ : څېر شي که د رته ما وکتل تا را وکتل ———— ۱۸

( م )

٦ : دا ستا د حسن تماشې وا خستم ———— ۱۹

۷ : دوا یه شم تا نه قربان څه وکړم ———— ۲۰

۸ : باغ د مینې دې د خیال پکښې غنچې کړم ———— ۲۱


Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


مخ
۹ : زه ئکه د مرم په شان دیدار ته اربه کېږم ———— ۲۲
۱۰ : شرمېږي نه پېږم په څرانه پسې نعیمېږم ———— ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هېڅ بنیار نه شم ———— ۲۴
۱۲ : واخلمه تا اوکه دنیا واخلم ———— ۲۵
۱۳ : خوشحالي ستا شوه زه ئې نه اخلم ———— ۲۶
۱۴ : تکه گلي چې په ازغو کښې ونېسم ———— ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تېرم ———— ۲۸
۱۶ : اشنا که تا ته په کتو پوه شوم ———— ۲۹
۱۷ : قسمت داسې دې ژده کړم چې بېدار نه شوم ———— ۳۰
۱۸ : نور په نړه کې نه ځانګړي چې څه وایم ———— ۳۱
۱۹ : ته به گرځې هسې بنګلې نه به مړیم ———— ۳۲
۲۰ : ښکلې مخ ته دې د مرم په شان اربه یم ———— ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې کړېږه سرې سکرو نه یم ———— ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! زه دې په غنچو کښې نه یم ———— ۳۵
۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سېځلې یم ———— ۳۶
۲۴ : ستا د منزل په منزلونو کښې یم ———— ۳۷

( و )

۲۵ : ژوندې کله نه ما پوهه دی چې ئې له خاوره ———— ۳۸
۲۶ : خوږ به زه ئې د به رمه په سرو سترگو ———— ۳۹
۲۷ : نن به څه پرېسې نما په ترو سترگو ———— ۴۰



مخ
۲۸ : بیا دې سېځي نه کړم په هغو سترگو ———— ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې تورله شپه سحر لیدلو ———— ۴۲
۳۰ : شوق چې ستا له دیده پیغو پیغو سره لاړ لو ———— ۴۳
۳۱ : باد شو مه د عشق ډګر نګونو په سر وزن ———— ۴۴
۳۲ : خو په سره پټ درایه په نړه ذره ذره یې ———— ۴۵
۳۲ب : څکه چې تن په سوز پېد و تېر کړو ———— ۴۶
۳۲ج : بنده شوله دېره چې انکار دې وکړو ———— ۴۷
۳۳ : خبر نه وم دې ثواب او دې عذاب ته ———— ۴۸
۳۴ : زه یمه هجران د دنیا سترگو ته ———— ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې دا د مل نخښه ده ———— ۵۰
۳۶ : خوا ده ! تراغه شو د خپل وصي نامه پاتې ده ———— ۵۱
۳۷ : بېگا ستا په انتظار چې هسې ستړې تورله شپه کړه ———— ۵۲
۳۸ : لر د نقاب لرې کړه د ل زده کړه ———— ۵۳
۳۹ : ما په شوگیر تا په خوبو تېره کړه ———— ۵۴
۴۰ : رقیبه په خپل راغلې اشنا خیرې کړه ———— ۵۵
۴۱ : یاد شرابو نه نشې د باسه ———— ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یې رسه ———— ۵۷
۴۳ : تکه گلې د مرسېږد و تکه شه ———— ۵۸
۴۴ : ستا له سپینه مخه ځار نما نږې شه ———— ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه د پو په لاس کښې راغله ———— ۶۰
۴۶ : ترخو ته چې نړه کړېږې کله کله ———— ۶۱

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
٤٧ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې شړله ـــــ ٦٢
٤٨ : بيا به سره کړي د اوس ځواني ده دريمه دريمه ـــــ ٦٣
٤٩ : شکر دے چې زه هم د ښېرې شومه ـــــ ٦٤
٥٠ : کله چې په فکر کښې د ستا يمه ـــــ ٦٥
٥١ : د لاس چې غاړه شوم د ښکلو وتلي يمه ـــــ ٦٦
٥٢ : توبه تلنګه تېرې کا په هوښيار باندې وخترنه ـــــ ٦٧
٥٣ : ما په مثال لکه پتنګ تګنه ـــــ ٦٨
٥٤ : د ستا د خلکو چې فيصله مانه شي ـــــ ٦٩
٥٥ : نور نصر به څرګند کښې دا قسمت ملا نه کړه ـــــ ٧٠
٥٦ : ته څه وايه زه به څه کړم، زه ګيله لرم تيه ! ـــــ ٧١

ځ

٥٧ : ځيګر چې شو کباب په لمر اور د ګيډه ـــــ ٧٢
٥٨ : لرے د دیاب د ستې نه شي په وا زړه ـــــ ٧٣

ی

٥٩ : د اسې بله شپه به په نصيب سره راشي ـــــ ٧٤
٦٠ : عکس د ستا زما د سترګو له ځمبار وځي ـــــ ٧٥



٦١ : د ستا سترګې چې کړې غږ د زړه نه وځي ـــــ ٧٦
٦٢ : زه ګيله ! تا دې چې در درونه غم دی ـــــ ٧٧
٦٣ : چې پښيمان نه شې په يا کښې غم دی ـــــ ٧٨
٦٤ : کله د ستا د خند په درشپې دی ـــــ ٧٩
٦٥ : د ستا په غم کښې خوشحاله پټه دی ـــــ ٨٠
٦٦ : زما چې دا مدام د غه دلبر ته سترګې دی ـــــ ٨١
٦٧ : څه څه ماته هسې بله دنيا بنکاری ـــــ ٨٢

٦٨ : زړه چې کله هر څه رانه هر څه غوڅوی ـــــ ٨٣
٦٩ : زما زړه اود ستا سترګې سره جوړېږی ـــــ ٨٤
٧٠ : ما ته څه به چې زړه د چېرې څه د درونه دی تېرېږی ـــــ ٨٥
٧١ : څه چې پرې پټ ماته ما د يار سره جوړېږی ـــــ ٨٦
٧٢ : د وخت د ګذار د ونې ما غرنه نه جوړېږی ـــــ ٨٧
٧٣ : نور به ايله څه د لېونې نه پاتې کېږی ـــــ ٨٨
٧٤ : سترګې دې کړه برنده چې وختونه راز خطا شي ـــــ ٩٠
٧٥ : په ارمان د نادانۍ شي چې هوښيار شي ـــــ ٩١
٧٦ : د دې دنيا نه چې ګلان ورک شي ـــــ ٩٢
٧٧ : چې چې د مېنه دے دلبر په پيمان شي ـــــ ٩٣
٧٨ : ستا چې خندې زلفې کړ نڅه د تار شي ـــــ ٩٤
٧٩ : د ياسند چې به چې دا وې چې کاڼه به شي ـــــ ٩٥

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ

۸۰ : خزان لاړ شي، بهار راشي ګلان خوشحاله شي ———— ۹۶

۸۱ : راشه په ګوګل کښې د ځګر خبرې نه شي ———— ۹۷

۸۲ : د استا په سترګو کښې به څه پاتې شي ———— ۹۸

ے

۸۳ : زړه په دامانه دے چې نارے مخ دے ———— ۹۹

۸۴ : شو ګرچې ستا د ګراپ مينې طلبګار دے ———— ۱۰۰

۸۵ : خو زخوږ د مينې په تږخو کښې انتظار دے ———— ۱۰۱

۸۶ : خدايه څومره بې وفا زما دلبر دے ———— ۱۰۲

۸۷ : ما وې ګمان راته اشنا د ستا په ښېر دے ———— ۱۰۳

۸۸ : شاڅه چې حسن دې اشنا د سرو لېمو ډک دے ———— ۱۰۴

۸۹ : تګ تر د سره د استا سره ورېل دے ———— ۱۰۵

۹۰ : څومره وړې په زړګې باندې چې غم دے ———— ۱۰۶

۹۱ : ستا په انتظار کښې ماته کال څه دے ———— ۱۰۷

۹۲ : چې نزاې ستا په ترور دے په بل تر دې پېوند نه دے ———— ۱۰۸

۹۳ : چې لږ شان چې د حسن باقي دے ———— ۱۰۹

۹۴ : سترګو دې چل چې وخندا زړه کړے ———— ۱۱۰

ې

۹۵ : د ګان سپېڅاروله کښې مسکې دې ماليدې ———— ۱۱۱

۹۶ : اشنا چې ن ليدۀ تېرې وعدې راياد يدې ———— ۱۱۲

۹۷ : زما د اميدونو غوټۍ شپې وغنېدې ———— ۱۱۳

۹۸ : چې ښکلې دې وخندېدې شرشوې ———— ۱۱۴



مخ

۹۹ : پوره شوم په دې چې په ګنځل کښې خنګه ښکارې ———— ۱۱۵

۱۰۰ : اے ګله ستا چې وکې لۀ خندله سترګې الوې ———— ۱۱۶

۱۰۱ : کۀ دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بيا به څۀ کړې ———— ۱۱۷

۱۰۲ : د پره خوشحالي ښه نۀ ده بيا راته هېر نه يې ———— ۱۱۸

۱۰۳ : ګله مجنون غږ نه دې کړ غم په بيابان مړ شي ———— ۱۱۹

۱۰۴ : راشه اے ماه تابان په توره شپه کښې ———— ۱۲۰

۱۰۵ : چې د سترګو دې ښکار نۀ يې زما سترګې ———— ۱۲۱

۱۰۶ : خود د هسې پرې ګرځې شرې زما سترګې ———— ۱۲۲

۱۰۷ : د ستا چې نۀ وينم دا ترې دې سترګې ———— ۱۲۳

۱۰۸ : څۀ وشو چې سترګې دې په تابانه څرونې شولې ———— ۱۲۴

۱۰۹ : چې اشنا نۀ کړې ايسار يم ولې ———— ۱۲۵

۱۱۰ : ادبستې نۀ کېږي غم راماتې شي ———— ۱۲۶

۱۱۱ : ته به په زړۀ کښې ماته څۀ راکړې ———— ۱۲۷

۱۱۲ : ته ما ستا شپې يم په سله نۀ يې ———— ۱۲۸

۱۱۳ : هر څو ګړۀ چې د زړۀ قرار ماله راغې ———— ۱۲۹

۱۱۴ : دا سې راته ګورې ته نۀ چې راته ګورې ———— ۱۳۰

## سندرې

له ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لوړ کاته کا
خود لېمه شي کم طاقته په ژړاته کا

چې پلو له مخه لرې کړي رڼا شي
لکه ستركه د سبا چې راخاته کا

لږ یې عکس د زړه واخله که دې شک وي
چې دا تور باڼه دې څرنګه ویشته کا

په مئین زړه څنګدن شي چې یار راشي
په هیبت زړه په کوکل کښې الوته کا

د خاطر په زړګي داغ د بېلتون کوره
چې د یار په لوړ کاڼه واڼه کاته کا

چې اشنا یې ستمګر شي نو به څه کا
چې زخمي څوک په خنجر شي نو به څه کا

چې ټول عمر یې تېر کړے په پالنګ وي
څه چې زمکه یې بستر شي نو به څه کا

چې په عمر کښې یې غم لیدلے نه وي
چې د غم سره یې سر شي نو به څه کا

انتظار چې د وصال په کومه شپه کړي
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څه کا

که دیدن د یار موندے په ډېر هنر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څه کا

زه خاطر خو همېشه دغسې وایم
چې اشنا یې مسرور شي نو به څه کا

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



کاڼي بوټي دي دیار د محمدؐ
ما منلي په دیدار د محمدؐ

کړنګونه به یې لاړې شي په مخکښې
که چا ونیوله لار د محمدؐ

د دُنیا واړه ګلونه به یې هېر شي
که چا ولیده ګلزار د محمدؐ

چې د دې دُنیا ژړا او خندا نه وے
نه وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو یې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وی یې قرار د محمدؐ



زړه یې کوی هر وخت دردونه آشنا
لږ خو یې واوره فریادونه آشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مینه کښې زهٔ
ګوره داوښکو یې سیندونه اشنا

اوس دې له غمه خلاصېدے نشم
ما وې په عشق کښې وی خوندونه آشنا

ښ په جبین کښې دې خالونه خوَر دی
دی په چشمانو یې ګردونه آشنا

که ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دی ارمانونه آشنا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نه کړ درته ما وکړل تا را وکتل
خو کوم به دي بیا کړ دي سبا را وکتل

غم د غمسي کلو نه وو چې مینه جوړه
غمه و شو پسرلی دے کړ آشنا را وکتل

دنیا را ته کور ی د کتو نه وو تم
چې تا نه دي کتلی دی هر چا را وکتل

په مخه باندې را غلې مخ دې خله پټوه
که هو غم دې را ته جوړ چې دې په شا را وکتل

دستی دې وخندل هم دا دې وه ارمان
تا چې اے رقیبه په خندا را وکتل

یو دم مې نږه نږه شو لو همز ولو خاندلمه
خاطر چې غریو نیولی په ژړا را وکتل

۱ـ منزل ته کښې (درته) ته لا شته ر چې په ورته ده
(مخ خاندلی) لیکلی دے



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے په سر لمبې واخستم

لاس خو پي را نه کړه چې مخ پټوې
کوری یاران دې د غم شپې واخستم
دا درته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وای خله ته چې ستا اسرې واخستم
سبا دې بیا په زولنو کښې کوره
نن ږې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دي د مخ په سبا پوه نه شومه
که دې د زلفو تورې شپې واخستم
کور د ژوندون را ته یو پوړ ښکاره شو
چې تصور د هدیرې واخستم
بس یادوم دې نورې مه ننګوه
چې ته دې هېر نشې غمې واخستم

خاطره ته او دا دنیا دې پوه شه
نه بس د عشق یوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ووایه شم تا نه قربان څنګه وکړم
نور ودې د پاسه په ځان څنګه وکړم

ته خو به کمڅې د زلفو جوړې کړې
زه په دې شلېدلی ګرېوان څنګه وکړم
ته خو چا ته نه ورځې، خو زه را غلم
زه یم ستا په در کښې مېلمان، څنګه وکړم
زه به نور څنګه نه کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څنګه وکړم
ستا په طمع ځان له باقي شوے یم
ټول خو راته لاړل یاران، څنګه وکړم
پوره دې چې په ځان کړم اوس چې نه پرېږدې
بیا به داسې نه کړم سلطان، څنګه وکړم
چا به د غم ټک ټوندون اخستے وه
بس خو چې پیدا شوم انسان، څنګه وکړم

اوس خو زه خاطر په څه پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې مهربان، څنګه وکړم



باغ د مینې دې د خیال په کښې غنچې کړم
ستا د مخ په تصور کښې تماشې کړم

بل به نه وی یاره ستا غوندې کښې حُسن
ځله اور د ځپله لاسه در پسې کړم

ستا د مخ کتاب د زړه په سترګو کوم
په ځان تېرې شې او بدې راخورې کړم

زه خاطر خو یاره ستا د مخ کتاب ته
بې له تا نه په خبر کښې ورځې شپې کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زۀ لکه د موم پۀ شان دیدار ته اوبۀ کېږم
پرېږده چې اوبۀ شم ستا رخسار ته اوبۀ کېږم

چرته شي خوبونه شپې پرې ستورې محفل جوړ کړي
همدا يې مشغولا شي ستا سېنګار ته اوبۀ کېږم

زۀ پرې بنۀ پوهېږم ستا لېدل زما اجل دے
بيا يې هم وار نۀ شي ستا يو وار ته اوبۀ کېږم

اوس خاطره ولې خدای پۀ نېۀ کړم دومره سخته
بيا چې پس لۀ مرګه ستا مزار ته اوبۀ کېږم



ستا پۀ الفت کښې به هوښيار نۀ شم
څو چې د عقل نه وزګار نۀ شم

سود يې د عشق پۀ لېونتوب نۀ شي
څو چې رسوا دې پۀ بار بار نۀ شم

يار يې وفا دې ما ته هله وائي
چې ترې لۀ سر او ماله زار نۀ شم

څو چې پۀ تورو خاورو موړ نۀ شم
موړ به دې هرمره پۀ ديدار نۀ شم

کۀ د منصور غوندې پۀ دار شم اشنا
دا ستا لۀ عشق به توبه ګار نۀ شم

خاطره! داسې ګذار عشق راکړلو[ے]
چې بل ګذار ته به بېدار نۀ شم

ے متن کې او دیوان کښې «راکړو» دے، چې مصرع بې وزنه کړي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

واخلمه تا اوکړه دنیا واخلم
په خندا خرڅه که ژړا واخلم

لېږي دي پوړ ته کړه د مخ نه زلفې
لږه سودا چي په رڼا واخلم

ته چي په سترګو کښې مسکۍ شوې ګلې
نو دي د دې مينې بلا واخلم

تا ته چي ګورم په دوو زړونو کښې شم
يو قدم مخکښې بل په شا واخلم

مرګ او بېلتون را ته جوړه راغلي
خاطره دا واخلم که دا واخلم

○



○

څومره چي نږدې کېږم په ځوانۍ پسې زهيرېږم
خدای زده نه پوهېږم چي ساده شوم که پوهېږم

نه اوله تا تګ داسې کله چرته شوی
دومره خو پوهېږم چي قدم اخلم ودرېږم
ته او ستا بناپست چي په ما څنګه څرګند کړې شي
مه کوه ايله نن د هر څه سره جوړېږم
نه يمه خوشحاله ستا په غم کښې خفه مه شې
خدای دي بخلا مه کړه چي له تا . مرورېږم
شان يې د کړو نه وي خو چي زړه يې شي راپورته
تا ته چي نه سوال کړم د خپل ځان څخه شرمېږم
غوښتنه يې هم دا چي را ته وواېې چي درومه
خدای خبر چي بيا دي په پلو در ښکاره کېږم
ته که په يو ځل له ما خلاصېږې نو ږې واخله
ته به را ته نه شې کتې ځکه له خفه کېږم

څنګه ما خاطر در ته دا وويې چي يې هېر کړه
پرېږده چي يې واره په هر ځای کښې در يادېږم

---

مياشتنۍ ـ قند ـ مردان . خصوصي ګڼه ۱۰ ، رکالئي نمبر (ص ۹۵)

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خوشحالی ستا شوه زه یې نه اخلمَ
د ستا غمونه واړه زه اخلمَ

تا یې چې زړه وړه ګواه هم نه لرم
اوس به له تا نه خفګه زړه اخلمَ

اول سپرغی وم ستا د مینې د اور
اوس په ځان پوره شوم چې لمبه اخلمَ

په ورانه دې خم په ودوستو کوم آشنا
زه قدمونه چې واړه اخلمَ

هومره ګړ دو ته په خاطر دی د غم
په اسویلو کښې چې سیاله اخلمَ

○

---

د متن لمبه کښې د الفاظ تغیر نه دے ده چې صحیح نه دے .



○

لکه ګلی چې په اغزو کښې وینم
داسې یې زړه ستا په بڼو کښې وینم

رخسار دې وینم تورو زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې په تیارو کښې وینم

ګلفامه څوک له لرې اوسې له ما
زه دې د نم په پلوشو کښې وینم

د ستا لیدل تیر شوے خوب وه آشنا
بیا به دا خوب په کومو شپو کښې وینم

اے د صبا سترګې با خبره په ورو
تله د آشنا دې په خټو کښې وینم

زما خاطر خاطر دې امد کښې ویسو
اوس یې لوګے په اسویلو کښې وینم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

په دې دُنیا کښې هسې شپې تېروم
لکه مېلمه یو دوه غرمې تېروم

په ما زهیر مهٔ شې خو مخ ښکاره کړه
په زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوه چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے یم چې تنګسې تېروم

دا زهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
په خپل خاطر د غم چپې تېروم

○



○

اشنا که تا ته په کتو پوره شوم
نو بس په ټولو تماشو پوره شوم

پس خو معلومه شوه چې نهٔ رادرومې
ستا د دروغو په وعدو پوره شوم

یا د ساقي د میخوند نشته دے
یا زهٔ ایله اوس په نشو پوره شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وی داسې
زهٔ دې د مخ په سرو لمبو پوره شوم

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

قسمته راسې دې ودۀ کړم چې بېدار نۀ شوم
بغېر لۀ تا ستا د غمونو نه وزګار نۀ شوم

په دې دنیا کښې به غم ستا لۀ ئونده څۀ نوي ندوي
لږېم غم خوړم خو یو ځل په کښې خمار نۀ شوم

ستا په الفت کښې هغه خوب چې ما لیدلے اشنا
د رقیبانو د جګړو ځنې وېزار نۀ شوم

ته چې راکوې زۀ به هغه وخت په طمع ومه
یو ځل هم مړو د ستا د خُلې په بنۀ ګفتار نۀ شوم

هغه وعده چې تا په سترګو کښې وه مانه کړې
دا زۀ خاطر دې د وعدې په انتظار نۀ شوم

○

○

نور په زړۀ ئې نۀ ځانېږی چې څۀ وایم
رانه بیا مرورېږی چې څۀ وایم

کۀ څۀ نۀ وایمه هم راپورې کږی
په دې هم راته قهرېږی چې څۀ وایم

د هر چا په لوری ځمه داسې وخت دے
بیا ئې وخت کله تېرېږی چې څۀ وایم

کۀ خبره نۀ وی مانه خبر دے خبر دے
بیا خپل حسن نه خبرېږی چې څۀ وایم

ډېره ښه په تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې ئې شرمېږی چې څۀ وایم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ به کرځې مسې بنګلے زهٔ به مړیم
چې یې اوس وینے لږ لیدلے زهٔ به مړیم
جنازه یې چې لهٔ کوره کړي تـه دروی
تهٔ به نهٔ ویې راو تلے زهٔ به مړیم
خدای د پاره پهٔ مزار یې چې را دروې
لږ شه ماته پښه نیولے زهٔ به مړیم
زهٔ به مړ شمه قراري مړګے ورک شه
سره خاندی به توړل کلے زهٔ به مړیم
وچې ترګې به پهٔ ما وی را ندرغړې
وی مزار به یې مُښلے زهٔ به مړیم
اے اشناچې دې وطن له تهٔ را دروې
خرخیږ خوږې لیدلے زهٔ به مړیم
خرې خاورې به پهٔ ما باندې انباروی
هر سړے به دروی غلے زهٔ به مړیم

د کاکل پهٔ ختـه بند د مغ کتاب کړه
ما خاطر پهٔ خدای سپارلے زهٔ به مړیم



بنګلی مخ ته دې د موم پهٔ شان اوبهٔ یم
لکه کافے مسې کلک ورته پهٔ زړهٔ یم

چې پهٔ کومه لاره لاړشی زهٔ یې مل یم
لکه ګرد یې مسې خوړ پهٔ هر یو پلهٔ یم

زهٔ پهٔ کومو ستر ګو ځان ته بیمار وایم
چې د ستا نوم اخستے شمه نو ښهٔ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دی یاره
پهٔ دې خوب پسې لا هغسې ویدهٔ یم

لږ د ځان سره پهٔ زړهٔ کښې فکر وکړه
زهٔ خاطر دې چرې یوځلې پهٔ زړهٔ یم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ګوره چې رنګ مې سوے سکور نۀ یم
طاقت مې نشته ستا د زور نۀ یم

راځه د سترګو نه مې مۀ ورېږېږه
سرې پۀ ژړا دی غځۀ مېخور نۀ یم

دې اسوېلو ته مې تۀ نۀ ګورې ځۀ
سوے پۀ اور یم سوے لور نۀ یم

ستم کوه تۀ منع کړے یې چا
زۀ لا خاطر مرے دګور نـۀ یم

○



○

سپېلیه زۀ دې پۀ غُنچو کښې نۀ یم
عادت پۀ داسې تماشو کښې نۀ یم

کۀ راکوې نو سم شراب را کوه
زۀ دې ساقي هسې اوبو کښې نۀ یم

اے خدایه بس ما خپله ورځ ولیده
د داسې ژوند پۀ تېرېدو کښې نۀ یم

د ستا بانۀ د ستا رخسار پۀ خاطر
یې دګلونو پۀ ازغو کښې نـۀ یم د

تۀ ما خاطر ته هسې ست خو وکړه
چې خفه نۀ شې پۀ در تلو کښې نۀ یم

○

د متن لرغونو دیوان کښې دا بیت د غزل وروستو بیت دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

یاره ستا مینې په اور سېزلې یم
روغ به نشمه په زړه داغلې یم

خودم قسم چې تر هغې پورې ژوندی یم
ډېر دې زه په تش دیدن ساتلې یم

همېشه سر په زنګون په غم کښې ناست یم
یاره تا کله خوشحال لیدلې یم

خوار خاطر والئ چې دا کومه ګناه ده
چې له در دې بېنوا شړلې یم

○



○

ستا د منزل په منزلونو کښې یم
د دیدو په امیدونو کښې یم

نه مې دنیا نه مې عقبا ګټېږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې یم

د ستا رخسار به مې هېر نشي اشنا
که د بهار په سرو ګلونو کښې یم

زما په زړه کښې خو هم ته یې اشنا
دا زه خاطر که د چا زړونو کښې یم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ژوندی کله نهٔ ماړهٔ دی بې لهٔ[1] خاورو
نهٔ ماړهٔ دی نهٔ ساړهٔ دی بې لهٔ خاورو

چا چې خاورې ځان ګڼلې پهٔ ژوندون دے
هغه چرته کښې وُدهٔ دی بې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شو نو کلک شو
دیوال کړے چا اوبهٔ دی بې لهٔ خاورو[2]

د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
پهٔ دې خر خېر کښې څهٔ دی بې لهٔ خاورو

○

---

[1] د متن لومړے او دیوان کښې د (لهٔ) پهٔ ځائے مصرعه کښې (د) لیکلے شوے چې صحیح نهٔ دے

[2] د متن لومړے او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده:
دیوال کړے بې اوبو دے چا لهٔ خاورو.



○

خود به نهٔ ټیټیږمه پهٔ سرو سترګو
ټیروتمه ستا پهٔ لیونو سترګو

مهٔ توروه تورې بلا سترګې دې
پام چې دړنه نهٔ شی د سپیرو سترګو

عمر له بې کار وی د ژړا سره
وهٔ چې ګورې چا ته پهٔ معصومو سترګو

بس کړه د خاطر سره خلاشه ته
خلق وېس عزت کړی د نرو سترګو

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څۀ يوسي زما پۀ تورو سترګو
زړۀ دې وړے لا پخوا پۀ تورو سترګو

کۀ پروا کړمه خو زۀ به دې پروا کړم
نور دې څۀ کوي پروا د تورو سترګو

ډېرې سترګې مې د سترګو پۀ هر لور شي
کړم دې داسې وارخطا پۀ تورو سترګو

کړې مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
ور به يې نۀ کړم د دنيا پۀ تورو سترګو

زۀ خاطر دې د کجلو سلائي وے
ښکلولے دې اشنا پۀ تورو سترګو



بيا دې سهي نۀ کړم پۀ هغو سترګو
يو ځلې هم هغسې پۀ مړو سترګو

نۀ مې شته پۀ نورو سترګو شک د نړۀ
بس خو نړۀ مې غل دے ستا د غلو سترګو
زۀ يې کړم آشنا لۀ شوکيرو سره
يو مې پل خوبونه ستا ډُډو سترګو
نۀ يم چې د نړۀ پۀ سترګو تاوينم
چار نا ليدلې پۀ ړندو سترګو
خپل مې واړه بدراځۍ پۀ سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د ړندو سترګو
ستا دې اوږدو ورځو ته حيران يمه
څومره ښکلې ښکارې پۀ دې دوو سترګو
خېر دے دا زما سترګې خو بندې شوې
تۀ خو راته ګوره پۀ دې ښو سترګو

څومره ترپنه وُرېښې دي حيران يمه
سترګې د خاطر ستا لۀ مړو سترګو

ريډيو پاکستان پېښور (مسودات)

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ما د وصال په شپه کښې تورله شپه سحر لیدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې اوتـــر لیدلو

دریغه چې شپه وے د وصال خو تر قسمته پورې
نۀ په دیدن نۀ مړېدم چې مې دلبر لـــیدلو
بیا د سحر غمونو هله لمبے کـــړمه زۀ
سرې ماښام مې نمر اوچت د غرۀ په سر لیدلو[1]
نۀ یې لا هیڅ په سرو لبانو باندې نۀ یمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځاې قمر لیدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر لیدلو
چې مې را یاد کړل هغه تېر د جدائۍ وختونه
لۀ غمه ډک مې ترهغې پورې اختر لـــیدلو[2]

خاطره بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
وائۀ رېبار چې مې جانان دې مـــرغۀ لیدلو

---

[1] سترګنه او دیوان کښې چې دغه ترتیب معنۍ مصرع واسې وه:
د ماښام سر وے نمر مې اوچت د غرۀ په سر لیدلو

شوق مې ستا د ډېرو بېخودونو سره لاړلو
زور مې شو اوبه د ستمونو سره لاړلو

خوښ مې اننګي شول د بهو ازغي مې هېر شول
زړه را نه بلبل شو د ګلونو سره لاړلو
وېرې مې کړې تېنګې خو اخر مې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو ســـره لاړلو
سترګې مې نیولې ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د ګردونو سره لاړلو
زۀ تر ېنه لوګے شم چې به څۀ سوے ترې راشي
زړۀ را نه د یار د دیدنونو سره لاړلو
چرته واسې یار شته لکه زۀ په انتظار یم
ستورے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېونے زړۀ پرې مشغولېږي
ستا د تورو زلفو زنځیرونو سره لاړلو

شو به دې مهار د عشق نیولے وی خاطره
ځوند د ژوند هسې د وختونو سره لاړلو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

باد شه وه د عشق د ګر نګونو په سرونو
په هوتم دلبرې وطنونو په سرونو

د ړنګه چې د ستا د اننګو خوله هم نه وې
پرځي نه چې ګروم د ګلونو په سرونو
ستړګې به زما شي اخر غرقې په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګرداپونو په سرونو
مات په ما نظر کړه چې سپهر سترګې حق حیران شي
درد مې کړه د لویو محلونو په سرونو
هسې هم ایرې یمه د باد سره الوځم
سکوړ مې شعله نیسي د زخمونو په سرونو
ځان به خاورې نه کړم غم د یاره کله شو پرېشې
خاورې دې پرتې وې د تېغونو په سرونو

بنګلي به سر تیټ کړي یاره ستا په تصور کښې
د هر خاطره ستا د غزلونو په سرونو



خو به سره یټ د واړه په زړه ذره ذره یو
کله دا دې خوښه نه ده چې هرچا ته دې ښکاره یو

یو دغه پښتون دے چې عزت مو په کښې پروت دے
خو به په کښې وایو چې مدام دې در سره یو

نه زما په سری شمعې نه ستا په انتظار کښې
هر کله چې وی نو مړه به د واړه په یو شپه یو

نه به کله وایو کله دنیا په بله واوړې
ګرځي دې نور خلق مونږ په خپله تماشه یو

پوخ به مې سوګند شي په کښې و د ځو د یار
اوس به د واړه څه رقیبه تور دې په اوبه یو

راشه مرووه چې مې شک له خاطر وځي
وایو به رښتیا چې دا په څه سره خفه یو

---

[illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

څکه مې نن په سوز بلدو تېر کړه
چې مې پرون په مسېدو تېر کړه
زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه مې له ټولو مرحلو تېر کړه
دلسوزي مه کړه تپوس هم مه
ږکي مې عمر په لمبو تېر کړه
زما دا تېر ژوندون زما خو نه وه
ټول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړه
یار بیا د چا له تورو زلفو نه کړم
یو ځلې مرګ را باندې دو تېر کړه
لکه د شمعې بې کا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سوکو تېر کړه
زه چې سپرلي ته ورخېږ نه یمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړه
ژوندون ده عشق لمبې ژوندې غمه دی
سر مې له وار وګړنګو تېر کړه
اشنا د ستا د ښکلي مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړه

○

○

ښه شوله وېره چې انکار دې وکړو
زما د واړه عمر کار دې وکړو

خلق چې ښه ولې ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

د زړه زخمونه مې بیا هله شماره
کړه د دې خپلې خندا شمار دې وکړو

زه لا غځه نه وایم چې داغ مې په زړه
ته لا خفه یې چې دیدار دې وکړو

خاطره زه له تانه چا وېړې یم
وار به دې راشي که لږ وار دې وکړو

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خیر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصویر وم ستا په دوو ځوکښې محراب ته

ما وې تل به خوشحالی وی ستا په عشق کښې
اوس مې نهٔ پرېږدی غمونه اشنا خواب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خو هله راشی
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

یو ذره یې لرې نهٔ کړلو د مخ نه
فکر یوړم د اشنا د مخ نقاب ته

نور یادونه مې په یاد کښې رانه هېر شول
یو دوه نهٔ راځي چې کښېنمه حساب ته

واړې زړهٔ به زما هم داسې تک تور وی
چې خاطر وکړم نظر سری کباب ته



زهٔ یمه حیران د دنیا سترګو ته
ګوره ګتې نهٔ شی د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه لیونے شومه
سترګې مې صحرا دی د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
رامې شی لهٔ واره ژړا سترګو ته
راخو دې په خپله اشنا کړې دی
ځله مې نو دیل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا برېښنا وه د فلک غوندې
بیا را نغله هغه رڼا سترګو ته
تا چوبه ارادې د راتلو کړې دی
ښکاری مې رنګینه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړه
بیا به نهٔ راکوي صبا سترګو ته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ چي رقیب ته اشاري کړې دا دمل نښه ده
تهٔ چي دا غلي غلي ګورې دا د غل نښه ده

کله یقین کړمه په دا چي مرور يې له ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې د چل نښه ده

تهٔ چي تېرس رانه مُدام کړې چې څهٔ لټوې؟
زهٔ چي دا لاس په سینه بردم دا ئې اول نښه ده

خاطره تا چي بېګا خوب کښې د هجران لیدلے
یقین مې دا دے اخرې ستا د اجل نښه ده



خوانهٔ تراخه شي د خوږ وهسې نامه پاتې ده
د بدو شپې دی او د ښو هسې نامه پاتې ده

تهٔ رانه هېر یې خدایه هر څهٔ پهٔ دولت کړمه
د دعا ګانو د ښېرو هسې نامه پاتې ده

پهٔ سترګو ژړو او پهٔ زړو کښې سره خاندو اشنا
مهٔ کړه ګیلې د ژړېدو هسې نامه پاتې ده

پهٔ دېره مینه کښې چي زهٔ او تهٔ پرې نهٔ پوهېدو
د هغې ورځو او د شپو هسې نامه پاتې ده

چي پهٔ پلو کښې به یې پهٔ زړونو باندې اورلګو
د ستا د هغې اننګو هسې نامه پاتې ده

صبا به وائې چي د خدای پهٔ خاطر راشه لږه
پهٔ ما خاطر کښې د ژړندو هسې نامه پاتې ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

بېګا ستا په انتظار ي هسې ستړې تو له شپه کړه
خندل را پورې ستوري چې سپوږمۍ مه راته ګيله کړه

ورته سر په زنګانه وم د وصال تېرې ته غلے
ما به ګله ګله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شو په منډه نظر ستړے چې هر ستوري به چا کړه
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوري به مزه کړه

ورسره به يې ته ؤ وچوي که شپه وچوي د خاطر نه
په ژړا ژړا ګډه شي خو وعده يې ستا پوره کړه

○

۱ صحيح مصرع داسې په کار ده : خندېدل را پورې ستوري چې سپوږمۍ مه راته ګيله کړه



○

لېږ د نقاب لرې کړېدل زده کړه
زما په لوري سم کتل زده کړه

په جار خندا به رقيبان پوهه شي
پټ په لېمو کښې مسېدل زده کړه

اے زړه چې سم دا وارې وته چوې
ټکه تيناکه ترکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصيحت مه کوه
ناصحه ما نه پوهېدل زده کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ما په شوګیر تا په خوبې تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته په ګیلو تېره کړه

بېګا رانغلې شمع دویه اشنا
ما ټوله شپه په دربدو تېره کړه

مینه د ستا زما نوې نږه سوزوي
هسې لمبه دې په اېرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا له خاطره اشنا
د هجر شپه مې په سلګو تېره کړه

○



○

رقیبه په خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نوې بس هم دا خبرې کړه

څو به پټې سترګې زه د اوښکو کړم
ګلفامه راشه راشه دغه بیا خبرې کړه
نورې دا غمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله یادې د وفا خبرې کړه
سود مې کله کېږي د ساقي په پیمانو
د ټولې میخانې او د مینا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپین د اوښکو په سېلاب کېږي
بس نور شه راته وایه د خندا خبرې کړه
په خود نه یم تېروس راځي مه کوه ددهر
اشنا ما لېونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې و نه کړې د بل چا د غم سودا
د یار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو ترېخ زما له خولې وباسه

یا مې د زړهٔ رازونه مهٔ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څهٔ لټوه تنګه دنیا کې شور دبه
زړې د ژوند لا ورځې شپې وباسه

د آشنا یاده نور مې مهٔ تنګوه
لهٔ دې سرایه نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړهٔ په خونه شو بل
سترګې د سترګو نه یې مرې وباسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه په لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا ارمان دې لرم
کهٔ مې خوږ ما سره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن ترې نهٔ شي
راشه دا وښکو مې باران یوسه

ته چې مسکے شوې زما زړهٔ ته بنګلیه
دا د غمونو ډک جهان یوسه

خوبه زر راشه د آشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع روڼه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



لکه ګلی له مسېدو ډکه شه
بانډه دا باغ کړه له اغزو ډکه شه

چې ستا خوږو زلفو ته نه رسيږم
زما ښکلا له زولنو ډکه شه

که يې هر څو درسره فسد نيولې
خو زما مينې له پښتو ډکه شه

چې يې زوندون له رنګينونه ډک شي
بيا په غصه کېږي له نشو ډکه شه

بس پښېمانۍ له زړه نه وباسه ننن
وبېرېږه مه له اشارو ډکه شه

چې تا يې هم ګرېوان ته خيرې وړي
هم ستا کوڅه يې له تېرو ډکه شه

ښه دي زړه تش کړه چې بيا بيا نه ولې
فضا زما له اسوېلو ډکه شه

بدخواه چې لاس په سينه کېږدي درته
دخېبر څانګې له اغزو ډکه شه

خاطره يار دې په خېبر کېږي اوسي
تېوله دره له سپېلنو ډکه شه

ستا له سپينه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستا نه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا په ژبه باندې هره ژبه خوند کا
اے اشنا يا اپر بدے يا پښتو دے شه

زه او ته د چا ژړا او خندا څه کړو
زما اوښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس د ګل غوټې ته لرې شه رقيبه
يا پخپله باندې ګل شه يا ازغے شه

زه خاطر دې نور خاطر کولے نشم
اے رقيبه که پوهېږې نو سړے شه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د هجران په شپه ږيږو په لاس کښې راغله
خدای خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقیبان خو دې اوس تهول راله راتېر شي
چې یار راغے نو وصله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُمید دواړه پسې خوړ کړل
چې لږ ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور یې یو څېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شو مسکې نو بیا به راشي
اے خاطره بس راځه په لاس کښې راغله

○

○

ترڅو ته مې نږدې کېږې ګله ګله
په خوږو سړے مې کېږې ګله ګله

د دردمندو نظر هغو له په کار دے
چې دلاسه دې ښه کېږي ګله ګله

چې اشنا د چا نه ورک شي مونږ نشي
پسې ځان مې ورکېږي ګله ګله

ښکاري یار مې رور نه دے اے خاطره
په لمو کښې چې اوسېږي ګله ګله

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د ښکلي مخ شمع چي مي سپره شوله
جوړه په محفل کښي توره شپه شوله

راشه لږه واوره د اُلفت قصه
بس دے نوره نږه کښي چي نږه شوله

ډېرې وعدې ښې وې لږې لنډې
اوس دې هېرې کال راته وعده شوله

تا چي د خاطر خاطر ونه کړلو
ښه شوه ډېره ښه شوه اشنا ښه شوله

○



○

بيا به سره ګورو اوس ځواني ده درومه درومه
څوک کړی دومره غم خو ديواني ده درومه درومه

اوس ته ايله راغلي چي بس وخت د څنکدن شو
بيا راته ګرانيږی آساني ده درومه درومه

مې يې چي بازار کې د ښايست دے ګرم شوے
هر شے پۀ کښي ختلے دے ګراني ده درومه درومه

زۀ او تۀ خاطره نور پۀ څخۀ سره خوابۀ يُو
مينه خو هم دا پښيماني ده درومه درومه

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شومه
اوس دې چې نهٔ ښکلیه دکوڅې شومه

نهٔ به په ځان خفه وکړم چې راشې ته
واړه دې پهٔ طمعه کښې ذرې شومه

دومره درننږدې یم که څو لرې یم
لرې به شم تورکهٔ درننږدې شومه

نن خو دې خاطره چې سبا ته دوے
پوه دې نهٔ د مکر پهٔ وعدې شومه

○



○

کله چې پهٔ فکر کښې د ستا شمه
لاړ شمه لهٔ ځانه خو بیا راشمه

ته که لرې ضد نهٔ خو پښتو لرم
اوس در سره خرنګه پخلا شمه
خیال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ که د خپل زړهٔ پهٔ تماشا شمه
تا وې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کم چې بستا د زلفو پهٔ سودا شمه
نوري دې د مینې لارې سمې کړه
خدای خبر چې کوم پلو خطا شمه
عشقه راسې ځای لره دې راوستم
اوس به نهٔ د ستا نهٔ د دُنیا شمه
نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه پهٔ طمع د سبا شمه

وړې غریبۍ نیولی راکتلی دی
لږه بهٔ خاطر ته پهٔ خندا شمه

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلا ري خاوره شرم د بېنو څني وتلے يمه
اشنا په تا پسې له تلو څني وتلے يمه

د آشنا مخه نور مې سرے ته وے له ئې
نه خو داور او د اوبو څني وتلے يمه

په بنه ښېره به دې نه لب وهي نازېدمه اشنا
نو ئې اوس پوه دے د ښېرو څني وتلے يمه

تا خو به نور راته خندلي وي چې داخله وش
که په ټولو دې د کو څو څني وتلے يمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وش
نور د کړلو د کلو څني وتلے يمه



ته به خټکه تېرېږې په هوښيار باندې وختونه
نا پوهه هسې تېر کړل په قرار باندې وختونه

هېچرې هم سخيان خو د سبا غم و نه نه کا
له شو مانو نه تېرېږي په خروار باندې وختونه
دا تېر وختونه پرېږده له انکار سره چې تېر شو
ته راشه نور دې سر کړه په اقرار باندې وختونه
نه دے هسې کړم چې ځوک په غم کښې دروند ښکارېږي
په هر چا باندې تېر شي په خپل وار باندې وختونه
کوره د هغو په نه وکښې نوره سودا نه وک
تېر چې شي د ښکليو په بازار باندې وختونه
لکه باد هسې تېرېږي وخت په روغ او په بيمار
وو در بېږي نه و در بېږي په بيمار باندې وختونه
د مخ دې تصور کړم ځکه مخ مې داسې تور دے
خبر نه يې کړل تېر مې په انکار باندې وختونه

ما خټکه به لټون کړے د دنيا له غم نه خلاص يم
خاطر ما ښکلي تېر کړل په خپل يار باندې وختونه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما پۀ مثال لکه پتنګ وګڼه
تۀ دې د شمعې غونډې رنګ وګڼه

کۀ مې کوثر شول نصیب د دیدن
بیا مې شهید د عشق پۀ ننګ وګڼه

زمکه بستر وی لېمو ته مُدام
زړګیه تۀ یې هم پالنګ وګڼه

لکه چې څومره ستا غمونه دي وړې
پراتۀ مې ټول پۀ زړګی زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن پۀ ځان قلنګ وګڼه.



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړۀ مې حوصله ماته شوه

شونډې دې هسې رېبدلې نۀ وې
پۀ زړۀ دې بله څۀ راتله ماته شوه
نو دې ساقي څۀ جُرم نۀ دے کړے
تشه لۀ لاسه مې پیاله ماته شوه
کۀ پۀ عوض کښې یې هر څۀ غواړې تۀ
دا مې پۀ برخه د سېږده ماته شوه
لاس مې یې واکه چې جاسونو ته ځي
ما بنام څو نۀ دے چې روژه ماته شوه

خاطره پرېږده د دروغو ترېږې
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

نور زهر په خوږو کښې د افسون مه راکوه
د بس دے اشنا نور د انګېزه چاودون مه راکوه

ته تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشنا
سزا د رقيبانو په لمسون مه راکوه

چې خو وکړې وعدې نو هومره لاشې بې وعدې
دا دې وی دړ پاڅې خو زبون مه راکوه

که زه چرې په خود وے نو په تاشېدا کېدم
په سترګو ماله ډار بيا د جنون مه راکوه

هر څوک که زه خاطره د اشنا اجل ته مخ شوم[1]
دګوږ مبارکی خو په ژوندون مه راکوه

○

[1] د ديوان او منزل په نقلونو کښې مصرع داسې ده : هر څوک که زه خاطر د اشنا اجل ته شوم



○

ته خو وايه نه به خه کړم — زه ګيله لېونيه
خه به کړم او خه به نه کړم — زه ګيله لېونيه

تا خو وې آبادی پرېږده ، ما خو پرېښوه دلته څه ذی
په صحرا چې ګرځېده کړم — زه ګيله لېونيه

چې اشنا کړی سترګې پورته بانه ستا په لوړ دادروی
زه بې کوم طرف کابه کړم — زه ګيله لېونيه

زه خاطر درته حېرېږم چې په څه باندې راوین شوې
چې په څه دې اوس وده کړم — زه ګيله لېونيه

○

[1] منزل نقل او ديوان کښې (درته) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څېګر ي شو کباب په لمبو اوږ وکېږدهٔ
په ما دے یک تنها که په هس لور وګېږدهٔ

چې لرې ډر نن دې شوم د وصال په تمنا
د ستا د ګنګرو کانو په ما شور وګېږدهٔ
څېګر ي تش ګوګل دے راشه وګوره تماشه
د سوو فریادونو تنګ تکور وګېږدهٔ
زړګیه اُمید لنډ کړه پس لهٔ دې نور لهٔ وصاله
بېلتون دې څوانی مرګ شی اوس يي زور وګېږدهٔ
سپین مخ دې رابنکاره کړه د نقابه تکه نمر
ور بل دې پرې د وربځو غوندې خور وګېږدهٔ

خاطره خدای خبر که بیا دیدن وکړې دیار[1]
چې بیا د غمازانو داسې زور وګېږدهٔ

اشنا وې دا لړګی دی د خاطر داسې بلو
رقیب وې ما زیګر شو په تناور وګېږدهٔ

۱ - متداوله نسخه او دیوان خاطر کښې داسې ده: څه خاطر خدای خبر که بیا دیدن وکړې دیار
۲ - متداوله نسخه او دیوان خاطر کښې "تش تو" شعر دے، دغه معنی په لحاظ او قافیه غلط دی



لوے دریاب د مینې نهٔ شی په واړهٔ زړهٔ
شوګیره یاره بیا د ستا غوندې په نهٔ زړهٔ

چې په خلهٔ کوی یو او په زړهٔ بله
د هغهٔ سره به مینه کړې په څهٔ زړهٔ

سوی د ننګ ته چې لې وکوره دلبره
ما نیولے ستا د حسن په لمبه زړهٔ

بېګا ستا په انتظار کښې شمع رو یه
د هر ستوری سره پورته چې خاتهٔ زړهٔ

بیا يي خوب واړه تېروینه او هیبت شی
د هجران چغې چې وشی په قدهٔ زړهٔ

بیر غم نهٔ دے چې يې وکړې اے خاطره
ډېر غمونه دی کوه يي په ساړهٔ زړهٔ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

داسې بله شپه به په نصیب سره راځي
په عمر کښې راځي خو د رقیب سره راځي

خوشحاله وي په غم کښې هم ابـداً دا ده شاملام[1]
را دروي خوشحالي دې د حبیب سره راځي

څوڅې[2] په تندي ې د ازل لیکلي نه وي
دومره زحمتونه د غریب سره راځي

خندیږي او گـډیږي سره گلونه د صبا
نغمې چې د بهار د عندلیب سره راځي

نور خلق که رغیږي په دارو د طبیبانو
خاطر ته مرضونه د طبیب سره راځي

○

۱ـ مترلی نه او دیوان خاطر کښې الفاظ هم ، نشته دې مصرعه ې وزن نه او ږي سمتی کړی
۲ـ مطـربچې ، ترکیب مصرع ې معنی کړی



○

عکس د ستا زما د سترگو له زنبار نه وځي
د زړه له کوره ې بهلتون په یو گذار نه وځي

داستا کوڅې له زه د دروغ ځان په خیال نه درځم
چې تاو را تاو نشي د ستني سوم نه تار نه وځي

اے شمع د دیه راشه نور دغه ضد و نه پریږده
چې په مئین دې هره شپه د انتظار نه وځي

د ستا د عشق په سمندر کښې ې ژوندون چې پیدې
چې په ربښتیا خو سمندر وي د انکار نه وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ایله زیاتې شوې
ښکارې د ستا د ځوانۍ او به د ښو بهار نه وځي

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کتې در ته لا ډېره هجره نه شم
د ستا سترګې مې کوځې د زړه نه وځي

خدای دې هغه وخت را نه ولې صنمه
چې مې ستا د دیدن شپې د زړه نه وځي

که د سترګو نه مې وځي د ستا سترګې
وې و بل که مې جرګې د زړه نه وځي

موده پس سره یو ځای شو په محفل کښې
ستا بانه مې نن نېزې د زړه نه وځي

جمع زړه له اشنا چې زه د ستا یم
چې ته زلفې مې خورې د زړه نه وځي

د مخ لرې کړه پلو زه دې لوګې یم
چې مې ستا د مخ لمبې د زړه نه وځي

تر هغې به دې رقیبه زړګې وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړه نه وځي

زړګیه تا وې چې دردونه څه دي
دا په ګوګل کښې دې ترګونه څه دي

زړه په ښو مې وله څوک یې وینې
وهه وهه دا سترګکونه څه دي

بس خو که مخ دے نو ګلنامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څه دي

نه ده اسانه اشیانه مې د زړه
لا د ستم دې تندرونه څه دي

د ستا منزل دې دومره نور لرې شي
ګوډو ړندو ته تیندکونه څه دي

که مې ذرې کا نور نو لا به ښه شي
ستا په فضا لا وسعتونه څه دي

چې مړه وي یو ساعت یې ګوره
چې وي پخلا نو بیا ګلونه څه دي

چې مړه یې پټېږدے څو نه شي
ما ته په غلا غلا دیدنونه څه دي

دا په خاطر ګلفامه ستا دشوندو
وي په خاطر دې پرهرونه څه دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نۀ شي په بيا کښې څۀ دی
پرېږده راوګوره په دا کښې څۀ دی

زما په اوښکو کښې خندا ده دستا
ياره د ستا په دې خندا کښې څۀ دی

شمعې د نن شپې نه سبا جوړه ده
سبا به مړه وي په سبا کښې څۀ دی

زړۀ مې يې ستړے په تورپونو کړلو
ګله دا ستا په دې ګړوا کښې څۀ دی

خاطره ته چې ماته نۀ شې کتے
لږ دې پوه کړه چې په ما کښې څۀ دی

ګله دستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

په دا لنډ تنګ وخت کښې مې حال وپوښته
داې د ژوند د تېرېدو شپې دی

په تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا تورې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ ته به راخېژې ګله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زۀ خاطر درنه تېرېس کومه
د بېلتانۀ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وېنو غړغړې وکړلې
دا يې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دستا په غم کښې خوشحالي پټې دي
په دې زندان کښې ازادي پټې دي

زړه که ته غواړې نو لېونے خو نه يم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي
په خوږو زلفو کښې راګوري په چل
په دې ځنګل کښې دې هوسۍ پټې دي
په کوم سترګو به بيا بيا درځمه
په اشارو کښې دې تږګۍ پټې دي
خاندي چې جوړې شول د زړه زخمونه
ايله په وينو يې خوږګې پټې دي
څه شو په خوله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلۍ پټې دي
په سرو سرو ګودم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څه بلا مستۍ پټې دي
ستا له سيګاره ې ځوانۍ شه لوګے
وېرې په خاورو کښې ځوانۍ پټې دي
دستا په خيال زما خاطر شو ايرې
خو د اميد په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نه وينمه سترګې که هر چرته سترګې دي

له هره دره ودو تلې سترګې مې آشنا
که وېرې دي که تږې خو دې در ته سترګې دي
نه تل را ته مرسېږه په دې عمر مه شه جوړه
زما خو هم ګلفامه دې پرهر ته سترګې دي
د مينې سمندره سترګې غرقې مې کړې تا
وتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي
په اوښکو مې کړه ستړه وېره ونه مې د عشق
که ګل يې د مخ رڼې خو ثمر ته سترګې دي
را وړه چې خبرې شه وړه په وخت سترګه د صبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره که خوشغواړې زړه له تا د يار ديدن
نه نه شم ورکتلے زما نمر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نن خو ما ته هسې بله دنیا ښکاري
تا چې نۀ وینم نو خله دنیا ښکاري

تنګ کوګل یې د دنیا شي چې ته یاد شي
بې تا تنګه لا کوګله دنیا ښکاري

بې لۀ ما نه هسې ګله صحرا ښکاري
بې لۀ تا نه هسې ګله دنیا ښکاري

چې پۀ هجر و وصال نه پۀ کښې پوهېږم
داوستا ده کۀ دې خپله دنیا ښکاري

هیڅ خاطر دې خزان ونۀ کړو خاطره
شګفته خوره او بې ګله دنیا ښکاري



زړۀ چې کۀ هر څو رانه هر څۀ غواړي
هیڅ نۀ دے خبر چې هر څۀ زړۀ غواړي

اے ماشومه زړۀ ته ته رانه بنۀ واخلې
مخه رانه غواړې چې ما نۀ غواړي
تل به بې پروا وي ګړنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېدۀ غواړي
زړۀ او د نظر څښتني دې خلاص کړمه
نور دې لا ښایست راځني څۀ غواړي
هر سړے د ستا د دیدن وړ نۀ دے
راځو هم زړۀ غواړي هم لېمۀ غواړي
خبر نۀ یم کۀ ذهیر شوم ځان ته ګران شومه
بد هم پۀ کښې وي چې څوک یې بنۀ غواړي

خلق پرې تېر شوي لۀ سرونو نه
ځلۀ ورنه خاطر پۀ تشه ځلۀ غواړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او دستا سترګې سره پېژنی[1]
نور به بدکا چې پهٔ دې منځ کښې ځائېږی

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے ښېرې مهٔ کړه
مئین زړهٔ چې ستا لهٔ مینې نهٔ صبرېږی

کهٔ دې غم په ما انبار وی پروا نشته
دګلونو لاندې ځانګه نهٔ ماتېږی

چې مې ورتې اشنا وائې ،خفه شرې؟
زړهٔ مې ښهٔ شی په ګوګل کښې نهٔ ځائېږی

زهٔ خاطر داسې هیبت ستا د راتلو کړم
لکه پانه چې پهٔ ونه کښې رپېږی

[1] پېژنېږی



ما وې نن به مې زړهٔ وچوی خپو دردونه دی تېرېږی
پرېږدهٔ خدهٔ کړې تپوسونه خپو وختونه دی تېرېږی

جوړې تا اراده کړې د راتلو زما پهٔ لوری
نن مې سترګو ته د وړاندې مثالونه دی تېرېږی

جانانه زهٔ یې زغملے شم کهٔ وی دستا د لاسه
هر څو کهٔ ستمونه طوفانونه دی تېرېږی

ستا د حسن پهٔ بهار کښې یاره نورې رنګینی نشته[1]
دا دهر پهٔ خاطر باندې غمونه دی تېرېږی

[1] منزلونه او دیوان کښې دا لفظ نشته چې مصرع یې بې معنیٰ کړې ده

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

څه چې پرې پهٔ ما زما د يار سره جوړېږي
خبر دے زما زړهٔ د انتظار سره جوړېږي

کله پهٔ يو رنګ شي بيا سل ځل پهٔ بل انداز
سل ځلې ديدن د خپل خپل وار سره جوړېږي

وګوره واړهٔ ښکله پهٔ سترګو کښې اقرار کا
بس خو د يار شونډې د انکار سره جوړېږي

څهٔ پهٔ خاطر کېږي نن د ښکليو پهٔ صفت
هغه وخت را غلے دے چې دار سره جوړېږي

○



○

د وخت د ګذارېدلو مې داغونه نهٔ جوړېږي
زما سره سپرليه ستا ګلونه نهٔ جوړېږي

يو ځلې يې وران کړے ستا تصوير را له اشنا
هم مخسې زما هغه فکرونه نهٔ جوړېږي
راضي شه د يار غمه د دُنيا د غم سره
يو کور چې دګر زړهٔ پهٔ کښې برجونه نهٔ جوړېږي
اے زړهٔ تهٔ راته وائي چې يار راشي څهٔ به کړو
لا خو به څښې وړاندې تعبيرونه نهٔ جوړېږي
زهٔ خو يې اشنا لا د ږغوانه لمبے وم
د عمر لېونو ته زنځيرونه نهٔ جوړېږي
زهٔ تا ته پهٔ قدم کښې او تهٔ ما ته وېښ ولاړه
زما او ستا پهٔ منځ کښې پيغورونه نهٔ جوړېږي

خاطره يو وېښ نهٔ ده نن زړهٔ جوړ او سبا وران
چې وړې کوې غمونه هغه زړونه نهٔ جوړېږي

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به ایله څه د لېونو نه پاتې کېږي
ګونده یې یو کړ دې یې د پښو نه پاتې کېږي

زړه مې چې اشنا د ستا د تللو نه پاتې کېږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کېږي

پېغلې د زړه د لمن ورڅ پېدې لاړې
غم دې په کښې د هر شي د نیوو نه پاتې کېږي

نه بلبېدهٔ صبې اور دمغ دې. دا مې زړه وه
ګونده چې به سکون د سرو لبو نه پاتې کېږي

تا چې په کړو وړو د عشق بې تلم زړه کېږه
څنګه سې لاړې د پرندو نه پاتې کېږي



وی به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
دغه تور لوګي چې د ډیوو نه پاتې کېږي

یاد مې د دنیا له یاده مخکښې مخکښې سدی
څنګه به د ستا د یادېدو نه پاتې کېږي

باده د بېلتون چې مې په ډېری بیا را نه شي
سترګې مې د یار د تماشې نه پاتې کېږي

زړه له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاورې یې خاطره چې د پښو نه پاتې کېږي ۱

بیا راغلله شپه او ځلند سترې دی یار را نغي
بیا به مې خاطر ښ د خوبو نه پاتې کېږي

---

۱ د دران کتي مصرع داسې ده: خاورې یې دې چا له چې د پښو نه پاتې کېږي

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ستړګې دې کړه پرېندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې کړدونه وارخطا شي
خوبه کړې وعدې راته دغه او د سبا
ډېرې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي
زۀ درته لۀ ډاره پۀ محفل کښې کښېنۀ شم
ستړګې چې راواړوې نو نړونه وارخطا شي
عقله چې ېې ووینه زلفې تار په تار
بس خو یو کړپوان ته ېې لاسونه وارخطا شي
دومره اے زړګیه ! ځان ته مۀ ښکلوه ښکلے
وبه چوې لۀ واره کۀ دردونه وارخطا شي
غلۀ سره د مینې په محفل کښې چې یو ځاې شي
زړونه وارخطا شي ، چې رنګونه وارخطا شي
مل ئې کړه د زړۀ مې کۀ پۀ خُلۀ نۀ بیانیږی
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي
ځکه زۀ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

میاشتنۍ ، ژوندۍ پېښور اکتوبر ۱۹۵۹ء

پۀ أرمان د نادانۍ شي چې هوښیار شي
خوشحالي او خوبې وړک شي غم یې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي يې پۀ کار نۀ وی
پۀ أرمان د روغ صورت شي چې بیمار شي

پۀ توبه باندې ډېر بد ښکاری چې زړۀ شي
ښکاری ښۀ چې پۀ ځوانۀ کښې توبه کار شي

لېونۍ پۀ کانړو لګي ورته خاندی
د هوښیارو ځنګدن پۀ یو ګذار شي

خپله غمه د یار غم ېې لس مېلمه دے
تا به وکړمه دار وکړه کۀ دې وار شي

تۀ دې خپلې ستړګې وګوره چې څۀ کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د دې دنیا نه چې ګلان ورک شي
غږ د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هیڅ نه ده
که دریاب کښې چې باران ورک شي

هر مړه ې سود په لیونتوب نه کیږي
چې په مشکل کښې ې کریوان ورک شي

څو به لټومه ستا ورک شوی پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي



چې یې روڼ دے د لیمو په پیمانو شي
سو دې کله بیا د لب په بهانو شي

څو چې خدای را کړے نه وي نو به ژاړم
د خیبر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام یم پروا نشته
لیونۍ غوبونه تل په لیونو شي
نه د ستا لیونو سترګو نه ډار نه کړم
که خویونه دې د سترګو لیونو شي[1]
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وې
دغه شپه د سپیلنې د وړاند بسو شي[2]

چې د زړه کړه ته دې نا شي پروا مه کړه
لے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

[1] که دا د واړه شعرونه متن لرنه کښې نشته
[2] له دیوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده : چې د زړه کړه دلبر دا غلط د چې سوزي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کوڅې راتاو شي
زما د زړه څنې رسۍ راتاو شي

په سره پړه لوپټه کښې تاو شي
لکه وړانه بېړ بوکه راتاو شي

نه به مې بیا کړې لېونې د غرونو
نه به دا ستا سترګې هوسۍ راتاو شي

په زړه بورېدې خوبه وانه وېم له تا
نه به خاطر ستا لاڅوانه راتاو شي

وړاندې به مې دا وې چې کاته به شي
اوس چې په ژوند پوره شوم وایم څه به شي

وایم ستا بېنو ته د زخمي زړګي نه
بس دے که وې داسې نو ساړه به شي

نه ومه له داسې جدائي خبر
ما وې په ساعت کښې تله راتله به شي

ورېې کړو تپوس چې راځه ځه غواړې
ما وې چې که راشې نو خرابه به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نه يې پرېږدي دواړه سره مړه به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړه خو د خاطر اوبه اوبه به شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خزان لاړ شي بهار راشي ګُلان خوشحاله شي
بلبل يې د چمن وي بوراګان خوشحاله شي

نن خو مهٔ راګوره مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې نا پوهه رقيبان خوشحاله شي

شمع چې بلېږي د محفل د پاره خاندى
زړهٔ کښې داسې وايي چې عاشقان خوشحاله شي

راکړه جفا ګانې، ستمونه کړهٔ غمونه ورک
زړګے د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شي



راشه په ګوشو کښې د جرګو خبرې نهٔ شي
چرته چې په مونږ کښې د پردو خبرې نهٔ شي

ډېره شپه له راشه چې لهٔ يو بل نه خبر شو
ياره په يو شپه د ټولو شپو خبرې نهٔ شي

وايمه لهٔ ځان سره چې دا به ورته وايمه
راچې شي آشنا په حوصلو خبرې نهٔ شي

زهٔ او ته چې وويښو لهٔ ورايه سره پوهې شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړو خبرې نهٔ شي

ياره ستا د هجر اوږدو شپو شکوګيره کړے يم
ګوره چې مې اوس په اسوېلو خبرې نهٔ شي

خداى خبر خاطره زهٔ بيا چرته ته بيا چرته
پرېږده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نهٔ شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دا ستا په سترګو کښې به څه پاتې شي
رقیبه یار که مې په خُله پاتې شي

ستړې من دور سحر وختي پاڅېږي
په شوګیرو منین وعده پاتې شي

یو ځُلې نیغ په دې لار تېر شه آشنا
چې دې کاږه واږه کاته پاتې شي

افسوس چې ستا په خیال کښې څه ښکاریږه
دغه ارمان به مې په زړه پاتې شي

وستایه ډېر د یار ترا څهٔ خاطره
چې په کتاب کښې دې خوابده پاتې شي



زړه په دې نه دے چې ناولے مخ دے
چې کوم یې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ مې خوښ دے
والله یه تهولو کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې اوښکې مې بهیږي په مخ
دا بې ګناه جانان رټلے مخ دے

څه وشو تا که دیدن بند کړو په ما
خاطر په زړه کښې ستا ستا تلے مخ دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله لۀ غمونو نه وزګار دے

ستا سپنګار زما په سترګو کښې غرېږي
چې په کوم لوري زۀ ګورمه بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
کۀ یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندوې ، تغیروي چې ې ستا مینه
بس هم دغه ې خزان او هم بهار دے
دا رقیب دې څۀ په مخکښې مخکښې کېږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

کۀ دې یار لۀ سترګو ووتو خاطره
خپل غزل مخې ته وېسه دا یار دے

میاشتنۍ ، غُنچه ، پېښور
آګست ۱۹۶۰ ع



څوږ څوږ د مینې پۀ ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه پۀ تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې پۀ ما خوږه اوږده کړې ده
ښۀ دے چې د ژوند پۀ ورځو شپو کښې انتظار دے
مۀ کړه ضبطه مه چې راله او ښکې وچې نۀ کړې
ورېږي دې د چا پۀ دې شپو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو پۀ ما باندې ونۀ نیوۀ
ما ته څۀ د هجر پۀ غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُمید د ژړګۍ شنې پاڼې ې وچې شوې
بیا درته سپرلیه پۀ راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې کۀ نن نۀ وی سباله به دې خوښه شي
ږږ ې درته ګرځے پۀ اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو پۀ تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلی وو
ښکلیه ستا دیدن پۀ سرو لمبو کښې انتظار دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خدایه خومره بې وفا زما دلبر دے
چې لهٔ غمه یې زهٔ مرم پهٔ ده اختر دے

دهجران د لاسه شپ و روځ ژړېږم
ځکه داسې یې پهٔ اوښکو ګریوان تر دے

یا خو زهٔ ورته نظر کولے نهٔ شم
یا خو دے ورېږ پهٔ لېمو نې زورور دے

اوس یې سود پهٔ بل بشر نهٔ کي نهٔ شي
چې لیدلے یې دیار ښکلے بشر دے

تور بانړهٔ د یار دغشي پهٔ مثال دي
چې ویشتلے یې زما د زړګي سر دے

د دښمنه زهٔ خاطر خو پوهه پهٔ سپل قصور کې
چې پهٔ ځنهٔ باندې زمانه مربر دے

○



○

ما وې خان را ته اشنا دستا پهٔ ځېر دے
دې وې وروستو به ته پوهه شې څهٔ وایې ځېر دے

دې وې زړهٔ که خیرې ستا زما پهٔ زلفو
ما وې ستا هر یو کلیپ ورته کاوشېر دے

دې وې زهٔ یمه هرسي پهٔ مهر رونه
ما وې زړهٔ زما د لوړو غرونو شېر دے

دې وې بیا ته مخ ښکاره کړه که پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا لهٔ سره تېر دے

ما وې زهٔ خاطر دې هر وخت یم پهٔ طمع
دې وې راشه دلته کښېنه غم یې ډېر دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا يې دلبر نه پرې دے
د زړهٔ جهان يې د لوګو د اسویلو نه ډک دے

خوبونه يې ستا پهٔ بڼو غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنې وطن خو هسې ياره د ازغو نه ډک دے

دستا نصیب شه خوشحالي د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ډک دے

نمر مخي مخ ته يې لهٔ ورايه نا خبر کتلي
نن را ته ځکه دا جهان د پلوشو نه ډک دے

را شه ګلونه ګواهان دي پهٔ صحرا کښې زما
چې ټول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ډک دے

دا حسرتونه دا غمونه تنګ ګوګل زړهٔ کښې
لهٔ دې خو ګوره بنهٔ دے هر څو کهٔ د تیارو نه ډک دے

زړهٔ يې يوه دلهوښتيب پهٔ کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ډک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړګے خو مخکښې لا د ګیلو نه ډک دے

زما خاطر يې لهٔ شکوو لهٔ فکرونو ډک کړو
د مخ کتاب دې راله راوړه د قیصو نه ډک دے



تک تور سورے د ستا سوړے ورد بل دے
چې دې اورد د بنګلي مخ ترې لاندې بل دے

چې څو ځم پهٔ مخکښې لا منزل زياتيږي
اشنا ستا د دې منزل څنګه منزل دے

زړهٔ يې شک پهٔ ګومه لار دے سودائي شوم
نوره يې هېڅ مومندلے نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې پهٔ کښې اوسي اے خاطره
خیبر وګڼه حرم کهٔ څو شډل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خومره پرېږي په زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نۀ شي وائي کم دے

زۀ چې مسې پرېشان او سرګردان يم
مې يو غم يې لکه زُلفې پېچ و خم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه يو وارې په سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده کۀ چا راوړه
په کوم ځاې باندې يې ايښے چې قدم دے
ټول عالم يې وهرصفت د سخاوت کا
ګيله څۀ کړم چې د اخپل نصيب مې کم دے
زۀ خوشکه مسې شرمه په خندل يې
خلقه ما او په جانان کښې کوم يو کم دے
چې دلبرې په ژړا پورې نن خاندي
نن ورځ شوے مې د سترګو کله نم دے

حکيمانو له مۀ درومه خاطره
د يار شونډې دې پرهر له مرهم دے

○



○

ستا په انتظار کښې ماته کال څۀ دے
د و مره لا مانده نۀ يم ستا خيال څۀ دے

سوزې هم هغه چې پرې بلېږي اور
خانده لے اشنا تاته ډغال څۀ دے

تاکۀ په شاله کښې پته ولېدم
بيا به د اسې وائې چې مشال څۀ دے

زۀ دې مرېو غم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا په جبين خال څۀ دے

ما خو درته و يل ړپېره مې مۀ کوه
وګوره خاطره اوس دې حال څۀ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


چې زړهٔ مې ستا په تور دے په بل تور مې پېرزونهٔ دے
نظر مې ستا په لور کړم په بل لور مې پېرزونهٔ دے

اے مجبوره چې مې ورانه نهٔ کړې دا د زړهٔ کې خونه
ارمان په کښې د یار کړمه په کور مې پېرزونهٔ دے

دا نهٔ چې صبر بنا پست باندې شېدا دے زما زړهٔ
د ستا په مخ دې سوزې خو په اور مې پېرزونهٔ دے

په غېر ستا د محفل ځنې یې نهٔ شي ځهٔ ګـــذران
در دروی به خاطر خو په پېغور مې پېرزونهٔ دے



چې لب نظر مې د بصـر پاتې دے
جوړې منزل ته ډېر سفر پاتې دے

شپه کهٔ اوږده د خوږو زلفو ده څو
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
ناز دې د مینې د لمبو ځنې زړهٔ
لا مې په مینه کښې څېګر پاتې دے
تپوس د شپې وکړه کهٔ وکړې یقین
ستا انتظار را نه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تښته نهٔ شي
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ماخو د ستا په سر وطن ګڼلو
خبر شه اوس را نه خبر پاتې دے
نهٔ او انکار له تا په کوم سترګو
لا مې د تن د پاسه سر پاتې دے

نهٔ د دیدار په خلهٔ رخصت څکه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لندو پلونو به يې ښکله خمه
ما خو تل تک چې د صحرا زده کړے

ن دې ونۀ وې په وعده کښې راته
صره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مۀ کړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے



د ځان سينګارولو کښې مسکے وې ما ليدې
زما د زړۀ په سولو کښې مسکے وې ما ليدې

پرون مې څۀ پرواه ستا په ګذاب نۀ وه صنم
زما په زړۀ ويشتلو کښې مسکے وې ما ليدې

شاهد چې وه د دياره حيرانتيا مې هغه وخت
ائين ته په کتلو کښې مسکے وې ما ليدې

خفه يمه په دا کۀ بنۀ يې ستا لۀ سيې کړم
رقيب ته په وېلو کښې مسکے وې ما ليدې

لبان دې لکه پاڼې اننګۍ دې سرۀ ګلونه
سحر چې تۀ په ګلو کښې مسکے وې ما ليدی

خبرې په غصه کښې کېنې هم د چا خاطره
اشنا چې په کتلو کښې مسکے وې ما ليدې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

اشنا مې نن ليدهٔ تېرې وعدې را يادېږي
دا وصل کهٔ هجران دهٔ، چې ګيلې را يادېږي

بس دهٔ مې ستا ارمان پهٔ نېرهٔ کښې نن خلاوداً
را نهٔ چې ماته نورې مرحلې را يادېږي
منم چې فراقجن به نن سبا درا يادېږي[2]
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را يادېږي
کهٔ هرڅو شوې، نن ياد له چې هېر دې نشم بنهٔ[3]
پخوا مې لا پهٔ نېرهٔ کښې اوسېدې را يادېږې
وم دومره لېوني ستا د پرېشانو زلفو نهٔ
چې چرته څو به خاورې با دېږي را يادېږي
زما د نېرګي يادشي د مخکې نظر سره
پهٔ هيڅ نهٔ هېرېدلې هم داسې را يادېږي
دا نهٔ چې آهو چشمه اوس يې غټې ستا يمهٔ
د ستا خمارې سترګې لا دېرې را يادېږي

بېکا چې شمع ووېه هرڅهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را يادېږي

○

[1] لهٔ مصرع بې معنی ده



○

زما د اُميدونو ورځې شپې وغزېږې
هرڅو ستا د منزل کهٔ مرحلې وغزېږې

اوس چېرته ترېنه لاړ شم لېونے چې کړه يار
هرڅای کښې يې د زلفو زولنې وغزېږې

نمر مخنيه اوس دې سې لارې ماته کړه ګرګې
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېږې

چا هسې داسې دې چې خاطر کړو يار ګلا
پهٔ دې د رقيبانو جنازې وغزېږې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلې وې ، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډو صبغ ونه وې
بس که په تا به یادېدې شونډې

سترګو له زه که قسمونه ورکړم
زړګیه ته کله پرېږ دې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رپېدې شونډې



پوه شومه په دې چې په کنځل کښې څنګه ښکارې
وخانده یو ځل چې په خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصور په یو جونګړه کښې اوسېږمه
ته خو راته وایه په محل کښې څنګه ښکارې

شومه به په باغ کښې نه په غوټو وې خپل ځان ته
ګله د آشنا په سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګې یې په ما کښې دی چې ګورمه هر چا ته
نن راته اے شمعې په محفل کښې څنګه ښکارې

تا به په آئین کښې ځان لیدلے په یو رنګ وی
راشه د خاطر په هر غزل کښې څنګه ښکارې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

اے ګله! چې ستا پرکې د خندا نه ستړګې لاړې
نو خود چې لرې برې د ژړا نه ستړګې لاړې

نرګیه! پس له دې به یې د ستا په ستړګو ګورم
نظر چې وهٔ اشنا، چې لاړ، زمانه ستړګې لاړې
هم دا دې بد نګه شوه مه ګره پار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې چې له تا نه ستړګې لاړې
ما وې چې کهٔ ورګورې نو اوس بیا مخ پټوې
نو کوزې چې ګریوان ته له حیا نه ستړګې لاړې
یو بل ته په کاتهٔ شو او په نیمو نیمو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه ستړګې لاړې
لن راشه شمع رویه! لرې وګوره چې څهٔ شوم
د ستا په تماشا کښې چې له څانه ستړګې لاړې

نو څهٔ شو کهٔ مې د خاطر ستړګې په تا نهٔ شرې
چې د هرې داسې وړې له د دنیا نه ستړګې لاړې

پیاشتنه، قند، مردان

(غزل نمبر) جولائي، اګست ۱۹۸۹ء

○

کهٔ دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څهٔ کړې
کهٔ نهٔ عادت له دې بلا سره شم بیا به څهٔ کړې

در ته ګتلے نهٔ شم حیران یم د اشنا سینګاره
تا چې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څهٔ کړې

څو به بښې او دا دتنه تل تهٔ ما ته کړې
چې یې پېرزو نهٔ وی دعا مخه اشنا به څهٔ کړې

چې څهٔ یې وکړل مخه یې تړل وکړل په تا خاطره
دا یه چې تا له په لاس راشی په اشنا به څهٔ کړې

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



وږې د خوشحالي به نهٔ وه بيا رانه مړې
کله کله غم راکوه تل چې يې يـــا دېـــږې

زهٔ دې يم لمحې پېښېدے نهٔ شي رانه شمې
خدايږو د دنيا نه پهٔ تيارو کښې به نه ښکارېږې

ماته د اشنا د وعدې مرېږ ځاې اشنا دے
اے وږيه نظره ته پهٔ هيڅ هم نهٔ مړېږې

ستا به د خاطر نه وی پهٔ زړهٔ کښې څهٔ تورشوی
دومره بې پروا يې چې پهٔ مخ کښې مې تېرېږې

لے منتر لرنده او ديوان خاطر دواړو کښې پرېنکښې تا ليکلے شوے دے ربې خيال مېعم کړې



لکه مجنون غونډې ګرځم پهٔ بيابان در پسې
وايم پهٔ خُلهٔ ليلىٰ ليلىٰ څيرې ګرېوان در پسې

نهٔ شوم خبر نهٔ د وصال لهٔ خوشحالي نه چرې
لکه وحشي ګرمه غمونو د هجران در پسې

نهٔ دې اشنا يم نهٔ چې بيا راته آشنا ووائې
پروا يې نشته دے پهٔ تا نهٔ ګرځم خفګان در پسې

چې ته بيا نهٔ وائې پهٔ ما چې ته شيدا نهٔ يې ته
کهٔ د ګمروهې ګذار نهٔ ګړو خپل ځان در پسې

پهٔ حال خبر شه چې نن دې رانهٔ شي خوا له زما
چرې پهٔ لاس ګرځې خاطره رقيبان در پسې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

راشه اے ماهِ تابان پهٔ توره شپه کښې
یم تر زلفو پریشان پهٔ توره شپه کښې

لهٔ تېکرو بې پروا یم ستا پهٔ عشق کښې
لکه بحر یم روان پهٔ توره شپه کښې

پهٔ خندا مې ستا قسم وی شمع رڼه
څو به کړمه دا ګریان پهٔ توره شپه کښې

زهٔ خاطر د ستا د زلفو نه پاڼ نهٔ کړم
ما لیدلی دی ماران پهٔ توره شپه کښې

○



چې د سترګو دی ښکار زنې زما سترګې
چې یې نهٔ شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړهٔ کچکول کړمه د او ښکو پهٔ زنځیر کښې
چې در ګورم شی نمڅنې زما سترګې

مړګ ژوندون دے لبې راکوره د نړۍ سره
در نه غواړی جوړه ښښنې زما سترګې

د هر چا دې دیدنونه مبارک شی
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

پهٔ ژړا باندې څو نهٔ شی چې زهٔ ژاړم
ړکې ستا د در لمسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نهٔ در ګوری
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

خود د هرې يوې کونجې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څهٔ زو خونه پرې د ګرمو اوښکو اوړې
په ژړا د غم پخې شوې زما سترګې
چې سبا بېګا يې ستا په در کښې نيسم
خود د هرې يوې ناې شوې زما سترګې
بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې لهٔ ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د يار زر ګل ديدن غواړې
د اول نه پېرې بنې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

میاشتنۍ غنچه ستمبر ۱۹۶۰ع

دستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې
پهٔ کار مې نهٔ دی داپورې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
دستا پهٔ پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې داشنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
پهٔ تصور کښې خرېې کورې سترګې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشوې سترګې مې په تا باندې خوږې شولې
چاته پوره ته نه شوې چې دستا په لور کږې شولې

ګوره دا ګریوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلیږي دستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خو ګڼلې چې دستا خوله ډېره آسانه ده
ګرانه شوله ځکه دومره خولې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مینې افسانه زما په شونډو ده
څو دې افسانې مې په نړګوټي کښې ورستې شولې

سترګې د خاطر کۀ ستا په سترګو تېرو تلې دي
ګوره مه دا بدې کۀ زما په حقله ښې شولې

تا به کتو غل چېرته خاطره د ورک شوې نه وه
نۀ ګورې چې تا ته د آشنا سترګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ایسار به یم ولې
چې پښېمان یې تیار به یم ولې

په یو ساعت کښې مې بیا بیا ژړوې
چې اوس ژړېږم قرار به یم ولې

دریغه چې سر دې د ستم نه ټیټ نۀ
چې نۀ سر کښېږم ازار به یم ولې

نور به دې څه وکړې بانۀ په خاطر
ټول دې پرهر کړمه وېر به یم ولې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوښکې نه کمیږي څوک را مائې شي
تا چې خندا وکړه نور زیاتې شي

څوڅلې د اوښکو سره درغلم
دا څنګه جرګې او ننواتې شي

څو به ګوري ستا سترګې زما سترګې
لرې دي وی خبر دے هو چې زیاتې شي

تا چې د خاطر سره څه کړي دي
خبر دے اشنا دا مې در ته پاتې شي



ته به په زړه کښې ماله څه راکړې
که راکړې ماله به زړه راکړې

منع به نه شم ستا له درده څخه
په دې دې نه یم که څه ته راکړې
څه لوی اختر دې د ځوانۍ تېر کړلو
ته به لا سونه ماته ښه راکړې
داسې چل وکړه چې نور ورورو دې پېړم
سبا به ښکلیه یو لمبه راکړه
دا خوشحالي به ماته څوک راکړي
چې ټول غمونه راله ته راکړې
چې پرونند او ګوره دې کړم نو ماله به شو
اوس څوک به هر څه په ګاله راکړې

ضد له خاطره سره مه کړه ته
که یې اوان راله په خوله راکړې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان در ته ذرې ذرې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ خو چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوی لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې

هر څوک کهٔ چې د زړهٔ قرار دلو له راغې
پوهېږم ولې نه چې قتلولو له راغې

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وې کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو ښکلولو له راغې

غمونه د اشنا زهٔ اوس پهٔ هېڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راغې

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راغې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



○

داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
نېغ مې لهٔ زړګي وُڅ کاږهٔ چې راته ګورې

کله چې د زلفو وربځ لرې کړې لهٔ مخه
شي دې پلوشې ښکلې باڼهٔ چې راته ګورې

هغه وخت لږ وېرېږې تهٔ چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومېږي لکه ښهٔ چې راته ګورې

تهٔ زما د زړهٔ نه د خپل حُسن تپوس وکړه
زهٔ به درته ووايمه څهٔ چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مهٔ راته راګوره
زهٔ درته کتے نهٔ شمه تهٔ چې راته ګورې

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوس را نه هیڅ نهٔ شی خطا ده
لهٔ مرغهٔ مرغهٔ وو تمه
ګرانه اشنا دا دې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

نهٔ در نه خفګه هېرېدمه    خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چې خندل نهٔ ژړېدمه    لهٔ هغو شپو نه وشرمېږه
هېره زما تا له دنیا ده
شام و سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا دې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

غړېږهٔ غږ نهٔ ورځې صحه    چې وی کاڅوندی لغریه راشې
درته پهٔ ژړهٔ کښې به یې ساتمه    پرېږده چې مور بنهٔ پهٔ جناشې
زما پهٔ سترګو کښې حیا ده
نهٔ یې پهٔ څهٔ درواړومه
ګرانه اشنا دا دې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه



تل به پهٔ هر چا داسې کېږی    پهٔ داسې خلقو چې اعتبار کا
لهٔ خپله ځانه چې خبرېږی ـ    لهٔ اکر نکو به یې ګذار کا
د ښکلو مینه بې وفا ده
نهٔ به یې څهٔ درته ستایمه
ګرانه اشنا دا دې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

خاطر خرمهٔ وې درکنلی    اوس یې ژوندون اختیار دے
هغه چې تا درته خندلی    نن یې د نورې خندا تور دے
زما د زړهٔ خوږښه ژړا ده
څکه یې نهٔ قرارومه
ګرانه اشنا دا دې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

ـه دواړه ځایه د (لته) په ځای (د) لیکلی شوي دي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې ې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ ې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

زهٔ به څهٔ کړم ګریبان چې یار راکړه ګل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدي د ګوګل
هسې هسې ې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ ې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خند بدو ته جوړې شوې
مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ ې غم د نړۍ دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اوده ې سم تل تر څټګې ورسېدهٔ
بې لهٔ سوزه خو هیڅوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ ې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
ته طمع د دل اناره مهٔ کړه
اے شباب خاطر د هیچا نهٔ کا
زړهٔ ې غم د نړۍ دُنیا نهٔ کا

شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا زهٔ د بنامار پهٔ شان خوړلے یمه
زهٔ دې د سترګو پهٔ بڼو باندې ویشتلے یمه
څې ې لهٔ خُلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې کړېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غوندې ژړېږمه زهٔ
اوښکې ې څې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې ته کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور دے صنمه
خاطر کوي در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې زور دے صنمه
وهم رباب څکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې آشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تاچې زړهٔ با تُللے دے
تا ووې ربار ته پس لهٔ دې به څوراځي
خبر دے که تش تور ې دې پرون زړګے شړلے دے
خیال ې وهٔ سکار ته پس لهٔ دې به څوراځي
وښایه څُنګر راته اوس د زړګی سر راته
وایه د بېوغشو پهٔ کوم کوم ځای ویشتلے دے
لاس کښې آئینه ې وه کړې چې کینه ې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځي
خنګه مرې در شمه پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقیب راته وک ټوپک نیولے دے
یوځلې در غلے وم وېر دې زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس لهٔ دې به څو راځي
ماچې کوم ستم کړے اوس ې پهٔ تاکم کړے
دا دځوانۍ ولړ پهٔ ما ن سبا راغلے دے
شو خاطرغلام دستا کړې به تل سلام دستا
پرې ېږده در بار ته پس لهٔ دې به څو راځي

ن خو را ته مهٔ وایه چې نا تر سبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا تر سبا
وو ایه اشنا راته، تهٔ زما تعبیر نهٔ یې
وی چې تل پهٔ خیال کښې ې تهٔ صفه تصویر نهٔ یې
بیله راته ښکاری دا دُنیا تر سبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا تر سبا
راکړه ساقی داسې مئ چې شی زما او ستا نشه
هم پرې دچوپتیا نشه هم پرې د دنیا نشه
جام دلبر راکړه پهٔ بیا بیا تر سبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا تر سبا
ن خو دې را جمع شهٔ پهٔ مُشیر کښې کېنونه دک
ستړګو پیمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ ستورنه دی
ګُلې دخاطر شه پهٔ رښتیا تر سبا
سو دې ساقی نهٔ شی پهٔ مینا تر سبا

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم په چم
لوند مې گریوان دے څاڅي مې نم

مینه وفا دې نشته
په چا پروا دې نشته
وېره له چا دې نشته

کړه ستم طلب کړم صنم

رنګ مې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کړمه شور صنمه

وکړه کرم طلب کړم صنم

مینه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا

د ګل په چم طلب کړم صنم

ے منزل‌ګرندار دیوان کښې مصرع داسې ده ـ چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نهٔ وباسې، زما او ستا نه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیا نه

زما او ستا دلته څهٔ دی، خوږه مینه
دا خوهر چرته کېږي، چې داسې وینه
ځان له به جوړ کړو بوستان په بیابانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیا نه

خو به په وېره سره، دیدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بېګا سبا کړو
ته شه له زلفو تېره، نه له ګریوانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیا نه

دا ړک د مینې نړونه، به دواړه یو سو
څه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
یو دې چار ګل په پوښ به بل دې پېزوانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیا نه

دا مې په خوا خاطر کښې، نه وو صنمه
چې زهٔ خاطر به شمه، په خاطر جمعه
څکه چې ستا له غمه، وېریم پرېشانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنیا نه

ے منزل‌ګرندار دیوان کښې (د) ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سین نه کال نه د ېر غمونه
لۀ داسې ژوندنه مرګ به دے راته ښه

الله دې خیر کړي

ستا د ماښو فریادونه
هېر به مې نۀ شي

لکه د زانو قطارونه
هېر به مې نۀ شي

پاس په اسمان کښې جهانونو سره ځینه
الله دې خیر کړي

د پښتنو فقیره ژونده
خندا به تېر شي

تېر خو به شي پۀ لوږه تنده
خندا به تېر شي

پۀ مصیبت به دې خوږ سر ته رسوینه
الله دې خیر کړي

نوم د پښتو راځي هېر شي
څوک مې یاد یږي

غم د هغوی را سره پېر شي
څوک مې یاد یږي

څوک چې د قام او د اولس خدمت کوینه
الله دې خیر کړي

خاطره هغه خلق ستا یه
پۀ خپل کتاب کښې

تل پۀ بار بار دغسې وایه
پۀ خپل کتاب کښې

چا چې سرونه پۀ وطن ورکړي دینه
الله دې خیر کړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې توبلې په سبا سبا کښې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د بنا ښته ستر ګو د یاره
فکوره مانه ښکلیه یاره
څو مره لېږې په نږګوتي باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
د خدای د پاره بس که راشه
که مرو دې را څخه لاشه
ستا د را تلو په انتظار ستر ګې سترې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چا شوې
زما د زړه څخه جدا شوې
زما داسترې شوګیرې دې توبلې هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطره زه ځان ته حیرانه یمه
که لېرا ګورې بس روانه یمه
د پېغلتوب ملګرې توبلې دا نه ګیرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه درسته نه ده



واوره صنم زړه مې نه شي له تا نه
ویلې نه شم زه څه له حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه ښه دی په ما
زړه مې د ستا د یاره وائي چې وی دې په ما
واوره صنم

په کومه لاره ښکلیه چې قدمونه کېږدې
زړه به مې په زړه باندې داغونه کېږدې
واوره صنم

زړه مې له خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر به بې ګران دے یو ما چې په خنداشې صنم
واوره صنم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

پۀ تش ديدن باندې ې نړ نړ مشغولېږه
ځم مۀ خفه کېږه بله ورځ به راشم

لۀ هر چا پټه پټه ستا يارانه به کړمه
تاله چې در شمه نۀ ځۀ بهانه به کړمه
پۀ انتظار کښې ې لۀ ځان سره ځورېږه
ځم مۀ خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده در سره چې تا به هېر نۀ کړمه
يو ساعت بې لۀ تا به پۀ نور ځۀ تېر نۀ کړمه
پۀ دې سودا ې ځۀ فدا کېږه راوينښېږه
ځم مۀ خفه کېږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماهِ تابان شو سره
بل ې کاروان د ستورو پۀ کهکشان شو سره
د سبائی د خيال خوبونو کښې زنګېږه
ځم مۀ خفه کېږه بله ورځ به راشم

ځان ته دا تول دُنيا خاطره ما وګڼه
پۀ کښې ې مخ او زُلفې بېګا سبا وګڼه
د نړۀ پۀ مينه ې پۀ سترګو کښې اوسېږه
ځم مۀ خفه کېږه بله ورځ به راشم

له ګه په ډيوان او مشاعرو کښې (د ) دے



تۀ چې پۀ مرګ زما رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې
ستا رضا ده چې دا سې ژړېږم
پۀ عالم کښې دا سې ګرځېږم
پۀ محبت ې نا رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې

عاشقي وه پېدا لۀ اوره
لېږ زما سوی زړۀ ته وګوره
جوړ پۀ معنیٰ قيمت بها يې
ما ته قبوله دلربا يې

خاطر ته ګوره دا سې حيران دے
پۀ محبت کښې ستا بنديوان دے
يې کبرجنه بې ريا يې
ما ته قبوله دلربا يې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه وله زماداشنا مینه
اے زړه غمګینه

اے زړهٔ ذرې شه
خاورې ایرې شه
ځې دستګو د زړګې وینه
اے زړهٔ غمګینه

راشه کهٔ وینې
د زړګی وینې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راځینه
اے زړهٔ غمګینه

خاطره دا شپې
تا نه جدا شپې
جوړ د وصال شپې د یارکه دینه
اے زړهٔ غمګینه



اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
ځهٔ به د ښکلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لاهغه د زاغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی
راشه چې ژوند دې د کېفونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
اوس به تول بوټی سره ځان وښائی
څوک به ګلې څوک به ګلان وښائی
لاله به هم خپل ګرېوان وښائی
هم به بلبل شور و فغان وښائی
اوس به ښاخونه د رنګونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جونه به ولونه د وربل جوړوی
په کښې ځایونه به د ګل جوړوی
سره سره غنچو نه به منګل جوړوی
په آئینو کښې به کاکل جوړوی
دغه جهان به لا نازونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

ښکلی ځلمی به په شملو کښې بندی ګل
اوس خو به جونه په کمڅو کښې بندی ګل
بیا ارمانونه به په زړو کښې بندی ګل
څوک به د زړه په پرهرو کښې بندی ګل
داسې به زړونه په داغونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

زه کوم ژړا د چا خندا نه وینم
چې یې لیده هغه رڼا نه وینم
ګل د رخسار چې د اشنا نه وینم
زه نور ګلونه د دنیا نه وینم

څوکه جهان له دیدنونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو



د ارمانونو لوے جهان ړنګوی
زړه په ګوګل کښې یې جانان ړنګوی
د مینې ګل را نه هجران ړنګوی
نه کړی خاطر دغه بوستان ړنګوی
د مخ کتاب دې د رانوونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

ځه به د ښکلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګې مې غواړي شمع روېه سوزېدل
راشه یو ځل

ارمان مې دا دے کۀ پوره شي
د رنځ دارو مې د اشنا سره لیدل
راشه یو ځل

خو به شوګیر کړم راته وایه
واړه خوبونه راځني وتښتېدل
راشه یو ځل

کۀ دیدن کړې تلوار راوکړه
همزولې راغلې خوروی مې تور وېښتۀ
راشه یو ځل

عاشقان ګوره حال یې څۀ شو
لکه پتنګ چې پۀ لمبو وسوزېدل
راشه یو ځل

سوال د خاطر منظور کړه یاره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه یو ځل



ښ دې ودبل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے
د ژوند کاروان مې دے دغم خوګر د وړکې
واوره فریاد مې د جرس پۀ اوازونو کښې
تلے دې پل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے
ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تیارې به وینم
سبا د وصل به وي لرې کۀ نژدې به وینم
د ستا منزل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه زه اور راته بل دے
خاطره ښ دې کلالې سم راته کتلي وے
واړه ښاپسته به دې لۀ زړۀ څخې وتلي وے
دکتو چل پۀ کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه زۀ اور راته بل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړګې نیولې دې ماستا په رخسار کښې
اوښه اوبه شول تورې مې په خُمار کښې
ما چې لیدلے، ستا په نسو کښې پل دے
غم د وحشت، وحشت راسره مل دے
اوس مشغولا کړم په دغه لار کښې
اوښه اوبه شول تورې مې په خُمار کښې
نه در رسیږې نه درته غږ شي
نه رانه خبر شي نه رانه نس شي
دا څه ژوندون دے په انتظار کښې
اوښه اوبه شول تورې، مې په خُمار کښې
یار یې له بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حیران دے
تکه سپوږمۍ وي، ستوري قطار کښې
اوښه اوبه شول تورې مې په خُمار کښې

زما په طمع به کړې ترېسې وختونه
زه دې یاره نه یم      دومره وزګاره نه یم
چې درته کوم
ماته را یاد نه دې خوږک زه په ځوانۍ کښې یمه
په ژړګي غم نه لرم په خوشحالۍ کښې یمه
زه لېونے یم چې کوم دومره فکرونه
زه دې یاره نه یم      دومره وزګاره نه یم
چې درته کوم
لېونی نه یمه چې، دغه سودا کومه
په تا دې اور بلېږي زه څه پروا کومه ؤ
چې بیا مې مزوړې راته نه کا پېغورونه
زه دې یاره نه یم      دومره وزګاره نه یم
چې درته کوم

---

ؤ متن لرنه اوجتل اکښې دابل مصرع داسې ده:
لېونی نه یم چې دا سودا کړم — په تا دې اور بلېږي زه څه پروا کړم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نه یم چې خپل ځان وو وینم
چې په ائین کښې ګورم آئین پریشان وو وینم
جانانه ډېر دړېبي کړمه ارمانونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

زه چې ګورم له خمه مئین سوزیږی په ما
لکه د اور په شان سینګار ځلیږی زما
خاطره مه راځه بلیږی سره اوردونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

تورې سترګې دې اشارې کا — سرې شونډې لمبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانړه راته انغې کا — پینې د ګلو انګی کا[1]
چې مسکۍ شې بیا سترګې مرې کا — سرې شونډې لمبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د بسره ته وی — کړو چې خه دې تن په زړوی
چې مس خلق ټول تماشې کا — سرې شونډې لمبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په تورو شپو کښې — دا دې خاطره په تیارو کښې[2]
خپلې اوښکې دې ځان ته ډیرې کا — سرې شونډې لمبې کا
زړه کیږه راته وایه — چې زه کوم طرف ته لاړ شم

۱ـ منزل ته او دیوان کښې (تن) نښته
۲ـ منزل ته کښې دا بند نښته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې تر سبا به مې ژړا په تا پسې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دلبره بنده را ته معلوم یې
مسې خوږ نه چې ته ماشوم یې
گله نه یې په ما مظلوم یې
چې نه پوهېږې له هغو سره وعدې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه یم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې په غمونو کې دې گیر کړم
اوس دې دلبره ځله هېر کړم
که دې یو ځل په دیدن سیر کړم



کني له غمه به دې سر شم بیا مړې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شي
بس اوس مې قتل ته تیار شي
اشنا زما ځني وېزار شي
پروا مې نشته خو په خپله مې ذبې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

څنگه قبول دغه بېلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را یادې دغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دستا چې نه یمه د چا یم
راغلې دایم په خندا یم
مړ ود نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که مړ ود شوم نو گیلې کړه
را یادې هغه شپې کړه زما نا ترسه یاره

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

تېر به د ستا د حسن وار شي يارهٔ زما
اخر خزان به دې بهار شي يارهٔ زما
چې نهٔ را درومې اشنا نو وعدې خاله کوې
هغه پرون دې څهٔ وې نن چې بيا بهانه کوې
زما يقين ستا په اقرار شي يارهٔ زما
اخر خزان به دې بهار شي يارهٔ زما
ستړگې مې بې له تا نه د چا په لور نهٔ گوري
د ستا له مخه څنې مخ نه نور نهٔ گوري
مړې به کله په ديدار شي يارهٔ زما
اخر خزان به دې بهار شي يارهٔ زما
نهٔ د بل چا د مينې اشنا څهٔ طمعه نهٔ کړم
نهٔ به له نورو سره ستا مينه سمه نهٔ کړم
په ما خاطر دې کهٔ اعتبار شي يارهٔ زما
اخر خزان به دې بهار شي يارهٔ زما

چې نهٔ را درومې يار، ته، منع دې کړه ياد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړه عمر دې برباد زما
ان د يو ساعت مهمان د لې
واوره زما يو خو گيلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نهٔ کړو مراد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړه عمر دې برباد زما
چا ته بښکاره کړم خپل څيگر
نهٔ کړې پروا مې پرې دلبر
نور مې دي څوک چې بې واوري دغه فرياد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړه عمر دې برباد زما
کهٔ بنهٔ دې شي په سر زما
وي دې پېشکش دلبر زما
وائي خاطر شه نادر له تا، نشته باقي جانثار زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړه عمر دې برباد زما

له منزلونه او ديوانه کتبي (؟) د ے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان څهٔ کړم چې نن مخیه یاره تا ووینم
ښکلې دنیا ووینم ښکلې دنیا ووینم

ستا د کاکُل په تورو شپو پورې لاشپې څهٔ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څهٔ دی
دې تماشه ې د ژړا چې د دې خندا ووینم
ښکلې دنیا ووینم ښکلې دنیا ووینم

د ستا په مینه کښې د خلقو خندنې خوښ یم
خود خپل عقل نه ورکار شم لېونې خوښ یم
راسره غم د لېونو شي چې صحرا ووینم
ښکلې دنیا ووینم ښکلې دنیا ووینم

ګله چې ما خاطر ته یاد شې ټول جهان ګل شي
له ږېره هجره ښرېو ګل ې د چشمان ګل شي
خدای خبر بیا چې زهٔ به ستورې د سبا ووینم
ښکلې دنیا ووینم ښکلې دنیا ووینم



د قام ځلمو ستړګې مه پورته کړئ خپل ځان وګوره
چرته کښې وه سېده، وګورئ جهان وګوره

د قام ځلمو زمونږ همدغه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنهٔ کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نن په څېر ې خپل طاقت په ټول جهان خور کړې
په خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړې

شا ته نور مهٔ ګورئ په وړاندې خپل قدم کېږدئ
په وړاندې لاړو باندې مهٔ څئ قدم سم کېږدئ

لهٔ مخې لرې کړئ ازغي ځان ته ګلونه کېږدئ
شي چې اغیار در ته حیران هلته کښې پلونه کېږدئ

مونږ له چې مخې له راغلي وار خطا تللي دی
ځلمو زمونږه ځنې ډېر ځلي په شا تللي دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تا سو هم وا وری چې پېغور ته نظر تېر نهٔ شي
د پاکستان خلقو مېدان کښې مو سر تېر نهٔ شي

د مشرانو تل خلقو نصيحتونه نهٔ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وي

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سيال شئ پکښې
دا تنګي لنډې کړئ او ارې چې خوشحال شئ پکښې

چې ښې يې ونهٔ کړئ خلقو بيا به يې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ په خپله يې وکړئ

يو بل ته مهٔ ګورئ ، لهٔ ځان هر يو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان دهر يو ګوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن په خونه تندر د اسمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ په وېرو وينو د اسمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
دا ډېرې مهٔ کوه
هسې دپکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه دهر يو مسلمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ يو ځان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ودود کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمير کښې هندوستان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښاغلي په شان وو اول
حېران پرېشان وو اول
اول وو ښاغلے اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ !
دغر په شانته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شانې د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

*

ستا د هلال ستورے مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستورے ښکاري نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستورے سر او بصر دے زمونږ

تل ځلیږې په تا چې یې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**